د افغانستان
د اساسی قانون
د تسوید کمیسیون
دارالانشا

# دعامه پوهوني دبهير لپاره مرستندويه مواد

د عامه پوهونې څانګه
د 1382 لمريز کال ورى

# لومړی برخه

# دبن پریکړه لیک

## بسم الله الرحمن الرحیم

ددولت ددایمي مؤسساتو ترجوړښت پورې دافغانستان په اړونده د مؤقتي اقداماتو او احکامو پریکړه لیک دافغانستان په اړونده د ملګروملتونو تر څارنې لاندې د خبرو برخه وال، د افغانستان په اړونده د ملګرو ملتونو د سر منشي د ځانګړي استازي په حضور کې، ژمنه کوي چې په

افغانستان کې غمجن کړکېچ پای ته ورسوي، ملي پخلاینه، تل پاتې سوله، ثبات ټینګښت او په هېواد کې دبشري حقوقو درناوی وشي.
بیا ټینګار کوي چې دافغانستان خپلواکي، ملي واکمنتوب او د خاورې بشپړتیا خوندي وساتل شي، د افغانستان دخلکو د غه مسلم حق مني چې په ازاده توګه خپل سیاسي راتلونکی برخه لیک د اسلام، دموکراسی، پلورلیزم او ټولنیز عدالت له پرنسیبونو سره سم وټاکي، ددې قدرداني کېږي چې د افغانستان مجاهدینو دکلونو په اوږدو کې د خپلواکی، ملي واکمنتوب، د خاورې بشپړتیا او ملي یووالي څخه دفاع کړي ده او د تروریزم، ظلم اوزیاتي په وړاندې یې په زړه پورې رول لوبولی او ددوی قربانیو اوس هغوی د جهاد، سولې او د خپل ګران هېواد افغانستان دبیا ودانولو او ارامتیا اتلان ګرځولي دي.
پوهېږي چې په هېواد کې بې ثباته حالت د بېړه اړتیا لري چې مؤقت اضطراري تدبیرونه ونیول او عملي شي. د جلالتماب پروفیسور برهان الدین رباني ددغه چتموالي قدرداني کوي چې قدرت هغې مؤقتې ادارې ته سپاري چې د دغې موافقتنامې په نتېجه کې منځ ته راځي.
په دغه ضرورت ټینګار کوي چې په دغو مؤقتو تدبیرونو کې د افغانستان د اولس د ټولو پرګنو او د هغو ډلو چې د ملګرو ملتونو په اوسنیو خبرو کې یې نماینده ګي نه ده شوې بشپړ استازیتوب باوري شي، په پام کې ساتي چې دغه مؤقت تدبیرونه د یو داسې پراخ بنسټه او نماینده حکومت په لور چې جنسي توپیر پکې نه وي، په هغه کې د ټولو قومونو او هغو ډلو بشپړ استازیتوب شوې وي او د ټاکلې مودې څخه زیات دوام ونه کړي لومړی ګام بولي، د امني چې وخت په کار دی ترڅو نوی افغان امنیتي ځواک جوړ او وکړی شي خپلې دندې په پوره توګه ترسره کړي. په دغه موده کې باید هغه امنیتي تدبیرونه چې ددغې موافقتنامې په لومړۍ ضمیمه کې په ګوته شوي پلې شي، دامني چې ملګري ملتونه یوه پېژندل شوې نړیواله بېطرفه مؤسسه او ترهغه چې په افغانستان کې تل پاتې مؤسسات منځ ته راځي خاص او مهم نقش ولوبوي، چې تفصیلات یې ددې موافقتنامې په دوهمه ضمیمه کې په ګوته شوي، په لاندې ډول موافقې ته رسیدلي دي:

## مؤقته واکمني

<u>اول: عمومي احکام:</u>

1- مؤقته واکمني د قدرت د رسمي انتقال سره سمه رامنځ ته کېږي، د قدرت د انتقال نېټه د 2001 میلادي کال ددسامبر 22 مه نېټه ټاکل شوې ده .

2- مؤقته واکمني به د یوې مؤقتې ادارې نه چې په سر کې یې یو رئیس دی، د اضطراري لویې جرګې د رابللو دپاره یو ځانګړي خپلواک کمیسیون، دافغانستان د سترې محکمې او نورو هغو محکمو چې د موقتې ادارې له خوا منځ ته راځي جوړه وي. د مؤقتې ادارې او ځانګړي خپلواک جوړښت، دندې او اجرائیوي کار دودونه په دې موافقتنامه کې ځای په ځای شوي دي.

3- مؤقته واکمني د قدرت د رسمي انتقال سره سم د افغانستان دملي واکمنتوب تمثیل کوي. په دې اساس د مؤقتې مودې په اوږدو کې به مؤقته واکمني په بهرنیو اړیکو کې د افغانستان استازیتوب کوي، د ملګرو ملتونو په مؤسسه او د د غې مؤسسې په خاصو نمایندګیو کې د افغانستان څوکۍ اشغالوي، همدغه شان په نورو نړیوالو مؤسساتو او کنفرانسونو کې د افغانستان استازیتوب کوي.

4- د مؤقتې واکمنۍ تر جوړښت وروسته به د شپږو میاشتو په موده کې اظطراري لویه جرګه د انتقالي واکمنۍ او د پراخ بنسټه ادراې په هکله پریکړه کوي. نوموړې اداره

به تر هغه وخته پورې د افغانستان مشر توب کوي، چې یو بشپړ نماینده حکومت د ازادو او عادلانه انتخاباتو له لارې رامنځ ته شي. دغه انتخابات باید د اضطراري لویې جرګې د غونډېدو له نیټې څخه وروسته د دوو کالو په موده کې وشي.

5- اضطراري لویه جرګه د انتقالي واکمنۍ له تاسیس سره سم مؤقته واکمني له منځه وړي.

6- د انتقالي واکمنۍ له جوړېښت نه وروسته د 18 میاشتو په اوږدو کې د اساسي قانون د تصویب لپاره لویه جرګه رابلل کیږي. دغه اساسي قانون به دا فغانستان را تلونکي حکومت ته، چې د ملګروملتونو دڅارنې لاندې دعمومي انتخاباتو په نتیجه کې منځ ته راځي زمینه برابره کړي. ددلپاره چې د پیشنهاد شوي اساسي قانون د تصویب لپاره د لویې جرګې سره مرسته شوې وي، انتقالي اداره باید دخپل تاسیس نه وروسته د دوومیاشتو په اوږدو کې د ملګرو ملتونو په مرسته داساسي قانون کمیسیون جوړ کړي.

## دویم: قانوني چوکاټ او قضایي نظام:

1- لاندینۍ قانوني چوکاټ په مؤقته توګه ترهغه چې پورته ذکر شوی نوی اساسي قانون نافذ شي، تطبیقوي:

الف: 1343 لمریز (1964 میلادی) کال اساسي قانون ترهغه ځایه چې احکام یې ددې موافقتنامې له موادو سره په تضاد کې نه وي او له هغو برخو پرته چې د شاهي رژیم او د هغه وخت له اجرائیه او مقننه قواووسره ارتباط پیداکوي نور احکام یې د تطبیق وړ دي.

ب: موجوده قوانین او مقرارت تر هغه ځایه چې ددغې موافقتنامې او نړیوالو قانوني واجباتو د کومو، چې افغانستان یې یو طرف وي او یا د 1343 کال د اساسي قانون د تطبیق وړ احکامو سره په تضاد کې نه وي د تطبیق وړ دي. مؤقته واکمني دا قدرت لري چې قوانین او لایحې فسخ و تعدیل کړي.

2- د افغانستان قضایي قوه به مستقله وي. قضایي قوه دسترې محکمې او نورو محکمو څخه چې د مؤقتې ادارې له خوا جوړیږي تشکیله شوې ده مؤقته اداره به د ملګرو ملتو نو په مرسته یو قضایي کمیسیون جوړوي چې په افغانستان کې د اسلامي ارزښتونو، د نړیوالو حقوقي معیارونو او د داخلي حقوقي عنعناتو په نظر کې نیولو سره قضایي سیستم بیا فعال کړي.

## دریم: مؤقته اداره:

### الف: ترکیب:

1- مؤقته اداره له یو رئیس، پنځوو مرستیالانو او 23 غړو څخه جوړه ده.

له رئیس نه پرته هرغړی کولی شي چې دمؤقتې ادارې د یوې اداري څانګې مشر شي.

2- د افغانستان په باره کې د ملګرو ملتو نو د خبرو برخه والو د افغانستان د پخوانی پاچا اعلیحضرت محمد ظاهر شاه ته بلنه ور کړې چې د مؤقتې ادارې مشرې په غاړه واخلي، اعلیحضرت یادونه کړې چې غوره ګڼې یو بل مناسب شخصیت چې د برخه والو دمنلو وړ وي، په دغه دنده وګمارل شي.

3- د مؤقتې ادارې رئيس، مرستيالان او نور غړي به يې د هغو نومونو له ليستونو څخه چې دملګرو ملتونو په مذاکراتو کې د برخه والو له خوا ورکړل شوي دي، په اړونده څانګه کې د دوی د مسلکي تخصص، حيثيت، لياقت، کفايت او هم د افغانستان دقامي، جغرافيايي او مذهبي تناسب د ښځو د مقام د اهميت په پام کې نيولو سره د ملګرو ملتونو د برخه والو له خوا ټاکل شوي دي چې نومونه يې ددې پريکړه ليک په څلورمه ضميمه کې د ليست په بڼه راغلي دي.
4- د مؤقتې ادارې هيڅ غړی نشي کولی چې په عين وخت کې د اضطراري لويې جرګې د جوړېدلو لپار د څانګړي خپلواک کميسيون غړی هم شي.

## ب: کاردود( طرزالعمل):

1- د موقتې ادارې رئيس او دهغه په غياب کې له مرستيالانو څخه يې يو د موقتي ادارې د غونډو مشرتوب په غاړه اخلي او د خبرو او موادو اجنډ جلسو ته وړاندې کوي.
2-موقته اداره هڅه کوي چې خپلې پرېکړې د جمعي اتفاق په توګه وکړي، که چيرې د پريکړې لپاره رايي اخيستنې ته اړ شي، نو ضرور ده چې د حاضرو غړيو د رايو په اکثريت پريکړه وشي، مګر دا چې په دې موافقتنامه کې په بله توګه په ګوته شوی وي، په دې شرط چې د پريکړو له پاره د رايي اخستلو په صورت کې بايد په غونډه کې يوويشت غړي حاضر وي. په داسې حال کې چې د رايو شمير مساوي شي، د رئيس رايه پرېکنده رول لري.

## ج: دندې:

1- موقته اداره د دولت ورځنی چارې پر مخ بيايي ، د سولې، امنيت او نظم د ټينګښت او د بهترې ادارې دتامينولو له پاره حق لري چې فرمانونه صادرکړي.
2- د موقتې ادارې مشر يا مشره او يا د هغو په غياب کې يو له مرستيالانو څخه بايد د موقتي ادارې وړ ښه تمثيل او استازيتوب وکړي.
3- دموقتي ادارې هغه غړي چې د مختلفو څانګو دنده يې په غاړه وي، مسووليت لري چې د موقتي ادارې پاليسي د خپل کار په ساحه کې پلې کړي.
4- د قدرت د انتقال سره سم موقته اداره پوره قانوني صلاحيت لري چې د پيسوپه چاپ او چلند کې اقدام وکړي او په ځانګړې توګه حق لري چې له نړيوالو مالي سازمانونو څخه پيسې تر لاسه کړي. موقته اداره به دملګرو ملتونو په مرسته د افغانستان مرکزي بانک بيافعالوي. دابانک به د بامسووليته محاسبوي او څرګند کار د ود له مخې د پيسو په تهيه کولو کې د قانون له مخې اقدام کوي.
5- موقته اداره به د ملګرو ملتونو په مرسته د ملکي مامورينو خپلواک کميسيون جوړوي. نوموړي کميسيون موقتي واکمنۍ او راتلونکي انتقالي واکمنۍ ته دهغو باکفايته او بااهليته کانديدانو لنډ لستونه ورسپاري. چې د اداري څانګو په مهمو دندو او همدغه شان د واليانو او ولسوالانو په دندو ګمارل کيږي.
6- موقته اداره به د ملګرو ملتونو په مرسته د بشري حقوقو د رعايت څارنه کوي او د بشري حقوقو د نه مراعات په صورت کې به تحقيق او د بشري حقوقو کورنيو مؤسساتو ته وده ورکوي. همدغه ډول موقته اداره د ملګرو ملتونو په مرسته د هغو ستونزو په هکله چې په دغه موافقتنامه کې نه دي ځای په ځای شوي، نور کميسيونونه هم جوړولي شي.

7- د موقتي اداري غړي به په خپلو کړو وړو کې د یو لړ سلوکي ضوابطو رعایت وکړي چې د نړیوالو معیارونو سره برابر وي.
8- که چیرې د موقتي اداري کوم غړی په خپلو کړو وړو کې د پورته ذکر شویو نړیوالو معیارونو اطاعت ونه کړي، باید د خپلې دندې نه ګوښه کړی شي. د یوه غړي ګوښه کول او یا د اداري څخه د هغه ایستل باید د رئیس او یا د هغه د کوم مرستیال په وړاندیز او د رایو د دوه ثلثو په اکثریت عملي شي.
9- د لزوم په صورت کې د موقتي اداري د غړو دندې او صلاحیتونه د ملګرو ملتونو په مرسته تکمیل او تصریح کیږي.

## څلوم: د اضطراري لویې جرګې د رابللو د پاره ځانګړی خپلواک کمیسیون:

1- د اضطراري لویې جرګې د رابللو لپاره یو ځانګړی خپلواک کمیسیون د موقتي واکمنۍ د جوړولو څخه د یوې میاشتې په دننه کې جوړیږي. په دې ځانګړي خپلواک کمیسیون کې 21 تنه غړیتوب لري. د دې کمیسیون یو شمیر غړي باید په اساسي قانون یا عنعنوي قوانینو کې تخصص ولري. د دې کمیسیون غړي به د هغو کاندیدانو د لیستونو څخه چې د افغانستان په اړوند د ملګرو ملتونو په خبرو کې د برخه والو له خوا وړاندې شوي او همدغه شان د افغان متخصصینو، د مدني ټولنو د ډلو له خوا مخکې ترتیب شوي غوره کیږي. ملګري ملتونه به د دې کمیسیون په جوړولو، فعالولو او د کمیسیون د مناسبې دارالانشأ په جوړولو کې مرسته وکړي.

2- دغه ځانګړی خپلواک کمیسیون به د اضطراري لویې جرګې د غړو د شمیر په ټاکلو کې وروستنۍ تصمیم نیونکي مرجع وي \ دغه ځانګړی خپلواک کمیسیون به د مقرراتو او کار دود مسوده جوړوي چې لاندې ټکي به په کې په ګوته شوي وي:

الف: په لویه جرګه کې په هېواد کې دننه اوسیدونکو مسکونو او کوچیانو د برخې د ټاکلو لپاره د معیارونو په ګوته کول.

ب: په پاکستان، ایران او نړۍ په نورو هیوادونو کې د افغاني کډوالو لپاره د برخې د ټاکلو د معیارونو په ګوته کول.

ج: په هېواد کې دننه اوله هیواد نه د باندې د اسلامي عالمانو په ګډون د مدني ټولنو، سازمانونو، بانفوذه شخصیتونو، روښان فکرانو او سوداګرو د برخې د ټاکلو لپاره د معیارونو په ګوته کول.

دغه ځانګړی خپلواک کمیسیون به په اضطراري لویه جرګه کې د ښځو او د افغان ولس د نورو پرګنو د استازو مناسب شمیر باوري کوي.

اونۍ مخکې به د اضطراري لویې جرګې کاردود، مقررات، د جرګې د پرانېستلو نېټه، په نظر کې نیول شوی ځای او موده چاپ او خپاره کړي.

3- د اضطراري لویې جرګې لپاره به ځانګړی خپلواک کمیسیون د کاندیدولو د پروسې او د هغې د څارنې او تطبیق کاردود وضع کوي. دغه کمیسیون به د اضطراري لویې جرګې لپاره د غیر مستقیمو انتخاباتو یا غوره کولو پروسه په ځرګنده او

منصفانه توګه یقیني کوي. دغه ځانګړی خپلواک کمیسیون به داسې میکانیزم او مقررات رامنځ ته کوي چې د هغه له مخې شکایتونه ثبت او د شخړو په صورت کې حکمیت وشي.

4- اضطراري لویه جرګه به د انتقالي ادارې لپاره د دولت مشر انتخابوي او هغه وړاندېزونه به تصویبوي چې د انتقالي ادارې د جوړښت او د لوړ رتبه مامورینو په هکله شوي وي.

## پنځم: نهایي احکام

1. د قدرت د رسمي انتقال سره سم به په هېواد کې ټول مجاهدین، وسله وال ځواکونه او وسله والې ډلې د موقتي واکمنۍ تر کنټرول او قوماندې لاندې راځي، او د افغانستان د نویو امنیتي اوپوځي غوښتنو سره سم به دهیواد په وسله والو او امنیتي ځواکونو کې تنظیم شي.
2. موقته واکمني او اواضطراري لویه جرګه باید دنړیوالواساسي پرنسیبونو او احکامو مطابق عمل وکړي چې د بشر په حقوقو او انساني قوانینو کې خوندي شوي او افغانستان هغه منلي دي.
3. موقته واکمني باید د تروریزم، مخدره موادو او تنظیم شویو جنایتونو په ضد مبارزه کې له نړیوالې ټولنې سره مرسته وکړي. دغه واکمني باید نړیوالو قوانینو ته په درنه سترګه وګوري او د خپلو ګاونډیو هېوادونو او نړیوالې ټولنې سره سوله ییزې او دوستانه اړیکې ټینګې وساتي.
4. موقته واکمني او د لویې جرګې د رابللو ځانګړی خپلواک کمیسیون باید دا باوري کړي چې په اضطراري لویه جرګه او موقته اداره کې ښځې، ټولې قامي او دیني ټولنې عادلانه استازیتوب ولري.
5. موقته واکمني به هغه اشخاص چې د نړیوالو بشري قوانینو نه یې سر غړونه کړي وي او یا یې د انسانیت په ضد جنایت کړی وي د عدلي تعقیب څخه نه شي معاف کولی.
6. د موقتي واکمنۍ ټول اقدامات به د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا د 1378 لمبر پریکړه لیک (14 د نوامبر، میلادي کال) د افغانستان په هکله د امنیت د شورا نورو اړوندو پریکړو سره مطابقت ولري.
7. تر موقتي واکمنۍ لاندې به د ټولو اورګانونو لپاره مقررات او کاردود په غوره توګه د ملګرو ملتو په مرسته رامنځ ته کیږي.

ضمیمې ددې موافقتنامې داخلي برخې جوړوي، انګلیسي متن چې د 2001 میلادي کال د دسامبر د میاشتې په پنځمه نېټه په یوه نسخه کې ترتیب شوی اصلي متن دی او باید د ملګرو ملتونو په ارشیف کې خوندي وساتل شي.

رسمي متنونه به په پښتو، دري او نورو هغو ژبو کې هم ترتیب شي چې د ملګرو ملتونو د سرمنشي د خاص استازي له خوا به مشخصي شي. د ملګرو ملتونو د سرمنشي خاص استازی به تصدیق شوې نسخې په انګلیسي، پښتو او دري هر یو ګډون کوونکي ته استوي.

د افغانستان په هکله د ملګرو ملتونو د خبرو د ګډون کوونکو لپاره د ملګرو ملتونو لپاره د شاهد په توګه الاخضر ابراهیمي د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشی ځانګړی استازی.

## لومړی ضمیمه:

-1 د افغانستان په اړه د ملګرو ملتونو په خبرو کې برخه وال دا مني چې په ټول هېواد کې د امنیت ټینګښت، نظم او د قانون په پلی کولو کې په خپله د افغانانو مسوولیت لري. دغه هدف ته د رسیدو لپاره دا ژمنه کوي چې افغانان به د خپلو ټولو وسایلو، توان او نفوذ سره سم د ملګرو ملتونو او نورو نړیوالو حکومتي او غیر حکومتي مؤسساتو او مامورینو په ګډون د ټولو لپاره امنیت چې په افغانستان کې ځای په ځای کیږی، یقیني کړي.

-2 ددې هدف په نظر کې نیولو سره د خبرو برخه وال غوښتنه کوي چې نړیواله ټولنه به د افغانستان د نوي واکمنۍ سره د افغانستان د نویو وسله والو او امنیتي ځواکونو په روزنه او جوړېدو کې مرسته وکړي.

-3 ددې مطلب په پوهېدو سره چې د افغانستان نوي وسله وال او امنیتي ځواکونو د بشپړ جوړېدو او په کار لوېدو لپاره یو څه وخت ته ضرورت لري، نو له دې کبله د ملګرو ملتونو د شوری نه غوښتنه کوي چې خپل مؤظف پوځونه هرڅومره زر چې کولی شي په افغانستان کې ځای په ځای کېدو ته توجه وکړي. دا ځواک به د کابل او د هغه د چاپیریال د امنیت د ساتلو په لاره کې مرسته وکړي. دغه ځواک کولی شي چې د اړتیا پر مهال   د هیواد نورو ښاري مرکزونو او سیمو ته پراختیا ومومي.

-4 د ملګرو ملتونو په خبرو کې برخه وال ژمنه کوي چې له کابل او نورو ښاري مرکزونو او سیمو څخه په کومو کې چې د ملګرو ملتونو مؤظف ځواک ځای پر ځای کیږي، ټول پوځي ځواکونه وباسي. دا به هم ښه وي چې دغه ځواکونه د افغانستان د زیربنا (انفراسترکچر) د بیارغونې په لاره کې مرسته  وکړي.

## دویمه ضمیمه:

په موقته دوره کې د ملګرو ملتونو د سازمان نقش:

1. د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړی استازی په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د هراړخیز کار په ټولو برخو کې مسوولیت لري.
2. د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړی استازی باید ددې موافقتنامي ټول مندرجات وڅاري او د تطبیق په لاره کې یې مرسته وکړي.
3. ملګري ملتونه به موقتي واکمنۍ ته د یوه سیاسي بېطرفه چاپېریال په رامنځ ته کېدو کې لارښوونه وکړي ترڅو اضطراري لویه جرګه په ازادو او منصفانه شرایطو کې راغونډه شي. ملګري ملتونه به د هغو مؤسساتو او اداري څانګو چال چلند ته چې د اضطراري لویې جرګې دایرول او د هغې نتېجې په مستقیمه توګه تر اغېز  لاندې راوړي ځانګړې توجه وکړي.
4. دملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړی استازی او یا د هغه او هغې له خوا ټاکل شوي هیأت ته به بلنه ورکړی شي چې د موقتي اداري او د اضطراري لویې جرګې د رابللو د ځانګړې او خپلواک کمیسیون په غونډو کې برخه واخلي.

5. که د هر دلیل په وجه موقته اداره یا ځانګړی خپلواک کمیسیون د خپلو غونډو څخه منع شي او یا ددې جوګه نه وي چې د اضطراري لویې جرګې د راغونډېدو د موضوعاتو په هکله پریکړه وکړي، په دې هکله به د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړی استازی، د موقتي ادارې یا د ځانګړي خپلواک کمیسیون له خوا د نظریاتو په نظر کې نیولو سره د خیر او ښیګڼې له خپل ماموریت څخه کار اخلي ترڅو په دې باره کې د تل لپاره استانتیا وې برابرې او یا پرېکړه وکړي.
6. ملګري ملتونه باید حق ولري چې د بشري حقوقو د پښو لاندې کېدو په صورت کې تحقیق، او که ضرورت شي، نو د اصلاحي عمل سپارښتنه وکړي، همدارنګه ملګري ملتونه د بشري حقوقو د پراختیا، د ښوونې او روزنې د پروګرام د تطبیق او د بشر حقوقو ته د درناوي او پاملرنې په لاره کې مسوولیت لري.

## دریمه ضمیمه:

د ملګرو ملتونو له سازمان نه د افغانستان په اړه د ملګرو ملتونو د خبرو د برخه والو غوښتنه:

د ملګرو ملتونو په خبرو کې برخه وال په دې وسیله:

1- د ملګرو ملتونو او نړیوالې ټولنې څخه غوښتنه کوي چې د افغانستان ملي واکمنتوب، د خاورې تمامیت او ملي یووالي د ضمانت لپاره ضروري اقدامات وکړي. همدارنګه د افغانستان په کورنیو چارو کې د بهرنیو هېوادونو د لاس وهنې د بندولو په هکله لازم اقدامات وکړي.

2- د ملګرو ملتونو، نړیوالې ټولنې په ځانګړي ډول د مرسته ورکوونکو هېوادونو او څو اړخیزو مؤسساتو څخه غوښتنه کړې چې د خپلو وعدو د پوره کولو لپاره مؤقتي واکمنۍ سره په ګډه د افغانستان د بیارغاونې، په پښو درېدو او بیا ودانولو په لاره کې خپل واجبات او مرستې یو ځل بیا تائید، غښتلي او تطبیق کړي.

3- د ملګرو ملتونو له سازمان څخه غوښتنه کیږي چې تر هر څه زر د رایو ورکوونکو د نومونو د ثبتولو کار د عمومي انتخاباتو چې د اساسي قانون د تصویب څخه وروسته دایریږي مخکې له مخکې سرته ورسوي او همدارنګه په افغانستان کې نفوس شمیر نه هم بشپړه کړي.

4- له ملګرو ملتونو د سازمان او نړیوالې ټولنې څخه غوښتنه وکړې چې د افغانستان د خپلواکۍ او خلکو د عزت په خوندي ساتلو کې د مجاهدینو د قهرمانانه نقش په پېژندلو سره لازم اقدامات او د مؤقتي واکمنۍ سره مرسته وکړي ترڅو د افغانستان په وسله وال او امنیتي ځواکونو کې مجاهدین بیا مدغم کړي.

5- ملګرو ملتونو او نړیوالې ټولنې ته بلنه ورکړي چې د شهیدانو کورنیو او نورو وارثینواو د جنګ دمعیوبینو لپاره د مرستې صندوق جوړ کړي.

6- د ملګرو ملتونو او نړیوالې ټولنې او د سیمه ییزو مرستندویو مؤسساتو څخه په کلکه غوښتنه کیږي چې له مؤقتي واکمنۍ سره د نړیوال تروریزم، د مخدره موادو د کرنې او لیږدولو په ضد د مبارزې په لاره کې د مؤقتي واکمنۍ سره همکاري وشي او افغاني کروندګرو لپاره د مالي، مادي او تخنیکي مرستو په برابرولو سره زمینه مساعده کړي، چې د افغانستان کروندګر نور خوراکي پیداوار تولید کړي.

# دوهمه برخه

# دافغانستان داساسي قانون دتدوین بهیر

**فهرست**

سرليک
مخونه

1- داساسي قانون د تدوين څرنګوالي ته لنډه کتنه 13
2- داساسي قانون د تسويد کميسيون 14
3- داساسي قانون کميسيون 14
4- داساسي قانون لويه جرګه 15
5- داساسي قانون دکميسيون ونډه 16
6- ددارالانشا ونډه 17
- ♦ مطبوعاتي دفتر او دمطبوعاتو دڅارني څانګه 18
- ♦ دعامه خبرونی څانګه 18
- ♦ څيړنې، دراپور ورکولو او داسنادو وبرابرول 19
7- عمومي سلا مشورې 19
8- عامه پوهونه 20
9- دعامه سلامشورې لړۍ 21
10- داساسي قانون د لويې جرګې ونډه 22
11- دملګروملتومرسته 23
12- مهال ويش او دکار پلان 24

## داساسي قانون دتدوين څرنګوالي ته لنډه کتنه

په افغانستان کې داساسي قانون تدوين دملت دهوساينې او دهيوادددوانولو په بهير کی يو مهم ګام دی. دافغانستان خلک له جګړې څخه ستړی شوي اوسولې ته تږي دي . داساسي قانون دتدوين بهير به دلومړي ځل لپاره دافغانستان خلک په فعال ډول دسولې او د دوی درا تلونکي اساسي قانون په لور ديوې ګډې طرحې رامنځ ته کولو جريان ته وهڅوی . دا فغانستان اسلامي انتقالي دولت داساسي قانون دتدوين لپاره د داسې بهير په با ب ژمنه لري چې دټولنې ټول اقشار په کې راټول وی اودملي پيژند ګلوی حس پياوړی کړي . ا وپه پايله کې داسې يوسند رامنځ ته کړي چې ټول افغان ملت ته دمنلووړوي . نوموړې ژمنه ديوه جامع بهير دتطبيق په برخه کې دبن دپريکړه ليک له ګټو سره مطابقت لري ا و په ځانګړي ډول له دې ا صل سره چې :

( دافغانستان خلک حق لري چې په خپلواک ډول خپل راتلونکی برخلیک اوسیاسي نظام د اسلام دسپیڅلی دین ، دیموکراسی ، ټولنیز عدالت او ګڼ پالنې په رڼا کې وټاکي .)
دبن په پریکړه لیک کې راغلي چې یونوی اساسي قانون باید د لویې جرګې له خوا چې دانتقالي اداري ترتاسیس 18 میاشتې وروسته جوړیږي ، تصویب شي. پریکړه لیک څرګندوی چې د اساسي قانون یوکمیسیون (کمیسیون) باید دانتقالي دولت له خوا ، او دملګرو ملتونو په مرسته رامنځ ته شی. ا وپردی مساله هم موافقه شوې ده چې " دیوه بشپړ استازي حکومت" لپاره دې آزاد او عادلانه انتخابات دبیرنی لوئي جرګې دجوړیدو له نیټی څخه د 2002 کال د جون دمیاشتی پر9 (دوه کاله وروسته) ترسره شي . ددې موضوع په له پام کې نیولو سره چې انتخابات باید دنوي اساسي قانون په رڼاکې ترسره شي نودغه نوی اساسي قانون باید دانتخاباتو تر پیل وړاندې نافذ شي
همدا رازښایي څرګنده کړو چې دافغانستان داساسي قانون دتدوین بهیر دبن دپریکړو دبریالیو عملي کولو لپاره ځانګړی اهمیت لري .
داساسي قانون دتدوین بهیرددغو دریو ارګانونوله خوا په لاندې ډول ترسره کیږي :

- داساسي قانون دتسوید کمیسیون " تسویدکمیسیون " .
- داساسي قانون کمیسیون " کمیسیون ".
- داساسي قانون لویه جرګه "

دارالانشأ به ددریو یادوشویو ارګانونو دفعالیتونوملاتړکوي، دارالانشا به داساسي قانون دتسوید کمیسیون ته په اداري او لوژستیکي برخوکې لازمې مرستې برابرې کړي چې ددغې چارې دښه تر سره کولو لپاره به دکمیسیون له پراخیدو سره یو ځای ددارلانشا په جوړښت کې هم پراختیا راشي . نړیواله ټولنه به دملګرو ملتونوپه مشرۍ له دارالانشا اوداساسي قانون دتدوین له هر یوه ارګان سره بشپړه هماهنګي ولري څودا ډاډ ترلاسه شی چې داساسي قانون دتدوین بهیر هر ډول له لازمو مادي اوفني مرستوڅخه برخمن دی چې په نتیجه کې یې داساسي قانون دتدوین بهیرپه بریالۍ توګه بشپړیږي .

## داساسي قانون دتسوید کمیسیون

داساسي قانون دتسوید کمیسیون ددولت دریئس د فرمان له مخې د1381 کال دمیزان پر دیارلسمه (د2002 کال داکتوبر په پنځمه) نیټه وټاکل شو چې 9 کسه غړي لري اوپروفیسور نعمت الله (شهراني ) ددولت دریئس مرستیا ل ددې کمیسیون دریئس په توګه ټاکل شوی دی. داساسي قانون دتسوید دکمیسیون مسوولیت دادی چې داساسي قانون یوه ابتدائي مسوده ترتیب کړي. دا مسوده به داساسي قانون دترتیب په برخه کې داساسي قانون دکمیسیون لپاره د سپارښتونو دیوې مجموعې په توګه کار ورکړی. دتسوید کمیسیون به ابتدائي مسوده له خپل راپور اوسپارښتونوسره یوځای دکمیسیون دپرانیستلوپه ورځ کمیسیون ته وسپاري .

## داساسي قانون کمیسیون

کمیسیون 35 تنه غړی لری چې تر ګڼو مشورو وروسته د دولت دریئس له خوا وټاکل شول. همدا رازدکمیسیون رئیس دکمیسیون دغړو له منځه ددولت درئیس له خوا وټاکل شو. د نوموړی کمیسیون اصلی مسولیت دادی چې دافغانستان له خلکو سره تر پوره سلامشورو وروسته

داساسي قانون مسوده د1382 دسنبلې پر اتمه (2003 کال داګست پر 30 ) نيټه چمتو اوداساسي قانون لويې جرګې ته يې داکتوبر په مياشت کې وروسپاري . داکميسيون دغه دندې لري:

- داساسي قانون دمسودې تهيه اوطبع .
- دکاردمودې په اوږدوکې دمسودې دتدوين په هکله دعامه پوهې د سطحې لوړول او په دې لارکې داسانتياوو برابرول .
- دافغانستان په ټولوولايتونو ايران او پاکستان او دامکان په صورت کې په نورو هيوادونو کې دميشتوافغانانوپه منځ کې دعامه سلا مشوروترتيبول ددی لپاره چې دافغانستان دخلکو نظرونه او افکار داساسي قانون دځرنګوالي په هکله ځرګند او راغونډ شي .
- دهيواد په دننه او بهر کې له هغو اشخاصواوډلوڅخه د ليکل شويواسنادو ترلاسه کول چې غواړی داساسي قانون له بهيرسره مرسته وکړي .
- داساسي قانون دمسودې په باب داختياري وړانديزونودمطالعې او پرمخ بيول .
- دداسي يوبشپړرپوټ چمتوکول چې دعامو سلامشورو په لړکې دافغانستان دخلکوراټول شوي نظرونه په کې تحليل شوي وي. او بيا وروسته خلکوته ددغه رپوټ وررسول .
- دافغانستان په ولايتونو ، همداراز په ايران او پاکستان کې د خلکودبيا ليدوکتوپه پر مهال داساسي قانون پرمسودې باندې دهغوی پوهول .

کميسيون داساسي قانون دتدوين په ټول بهير کې دښځو دپراخې برخې اخيستنې لپاره لاره هواروي د تسويد کميسيون چې 9 تنه غړي يې درلود 2 تنه يې ښځې وې. اود ښځوشميرد کميسيون له تشکيل سره سم زيات شو، ښځينه کميشنراني به دعنعنوي حساسيتونو په نظرکې نيولو سره په ځينوسيموکې دښځو دعاموسلا مشورو دګروپونو مشري په غاړه لري همدارنګه کميسيون به دخپلوسيمه ييزو اوولايتي مامورينو له لارې عامو خلکو ته تعليمي پروګرامونه جوړکړي چې ښځی او نور ګروپونه داساسي قانون دجوړولوپه بهير کې دښځو د ونډی پر ضرورت باندې پوه کړي. همداراز دغه مامورين له کميسيون سره دليدنو کټنومناسب ځای،مهال،او ځرنګوالی ټاکي. کميسيون په پوره پام دښځو دچارولړه وزارت سره کارکوي چې دغه وزارت لهUNIFEM سره يوځای دښځو داساسي حقونو په اړه دنظرياتو په راټولولو،دسيمينارونو په جوړولواونورو روزنيزوچاروبوخت دي . همداراز کميسيون دمدني ټولنې له هغو موسسوسره هم چې دښځو په چاروکې کارکوي اړيکي ساتي چې له خپلودغو اړيکو څخه لاس ته راغلی پايلی کميسيون ته سپاري. په سيمه ييزومشورتي ټيمونو کې دجنسيت توازن ساتل دلومړی توب ځای لري .

## داساسي قانون لويه جرګه

داساسي قانون لويه جرګه چې موخه(هدف) يې دافغانستان داساسي قانون پرسردتوافق ترلاسه کول دي ، بايد دافغان ولس بشپړ استازيتوب وکړای شي ددغې لويې جرګې دنده داساسي قانون څيړنه او تصويب ده . داساسي قانون لويه جرګه د ميزان (اکتوبر) په مياشت کې جوړيږي اود 2003 کال د عقرب په دريمه (اکتوبر په25) نيټه خپل کار بشپړوي . داساسي قانون متن به وروسته خپور او په پراخه پيمانه وويشل شي

# داساسي قانون د کميسيون ونډه

داکميسيون د 1382 کال د ثور (2003 کال داپريل ) په مياشت کې پرانستل شو دکميسيون غړي په بيلابيلو پوهنيزوڅانګو کې دزدکړولوړې درجې اومعتبراسناد لري او دهيواد له بيلابيلو قشرونو، قومي اوجنسي ډلو څخه استازيتوب کوي هغوی به هڅه کوي چې دخلکو دفکرونواستازيتوب وکړي او کوشش به کوي چې په لانجمنو مسايلو کې په يوه ملي اوعامه پريکړه سره سلاشي.

دکميسيون اود دارالانشاء دکارپلان بايد پرلاندي پړاونوباندی وويشل شي چې کيداي شي ځينې همداوس داجراکيدو په حال کې وي .

- **تشکيلاتي پړاو:** په دغه مرحله کې به کميسيون خپل قواعد ، طرزالعمل او دکار پلان تصويب اوخپلي فرعي کميتې به تاسيس کړي .
- **دخلکو دپوهولو پړاو:** ددې مرحلي دهماهنګی چارې ددارلانشا له خواتر سره کيږی اوټول ملت به د کميسيون د کار او د اساسي قانون د تدوين له بهير څخه خبرکړي .
- **دځيرني اوله متخصصوافرادو سره دسلامشوري پړاو:** په دغه پړاو کې به دکميسيون غړي خپلي ځيرنې کوي اوداساسي قانون دهغواختياري اسنادواووړانديزونوپه هکله به چې دتسويد کميسيون وړاندې کړي دي له متتخصصو افرادو سره سلا مشورې کوي .
- **دعمومی سلا مشوری مرحله:** - ددغې مرحلې دهماهنګی چارې به ددارالانشا په غاړه وي چې دهغې په ترڅ کې به د کميسيون غړی دافغانستان هر ولايت ته او همدارنګه له هيواد څخه بهر، که چيرې مناسب وګڼل شي، سفرونه کوي.او دخلکو نظريات به راغونډوي ، او خلک کولای شي خپل نظريات او وړانديزونه داساسي قانون هکله وړاندې کړی .
- **درپوټ ليکلو مرحله:** - په دغه مرحله کې کميشنران ددارالانشاء په مرسته هغه نظريې چې دعامه سلا مشورې په ترڅ کې تر لاسه کيږي تحليلوي.
- تسويد او دبشپړولو **پړاو:** - په دې مرحله کې کميسون داساسي قانون مسوده او له هغې سره جوخت خپل رپوټ تهيه کوي ، توافق پرې کوي او ددولت درئيس حضور ته يې وړاندې کوي

- **داساسي قانون دمسودې چاپ او خپرول:**- په دې مرحله کې دارالانشاء داساسي قانون مسوده چاپوي او ويشي يې. او کميشنران هغه خلکو ته توضيح او تشريح کوي .

کميسيون دبيلابيلو قانوني موضوعاتو په هکله له کورني او بهرنيو حقوقي کارپوهانو سره ددوی دنظرياتو د اوريدلو په منظورمباحثې کوي. له اساسي قانون سره دتړليو مسايلو د تر لاسه کولو او ځيرنی په برخه کې د کميسيون د ونډې داسانتيا لپاره ديونما (UNAMA) داساسي قانون دکميسيون د ملاتړ يونټ، داساسي قانون دتسويد له کميسيون سره مشورې کوي او داختياري (پيشنهادي ) اسنادو تر لاسه کولو دنده يې هم په غاړه اخيستی ده . همدارنګه داساسي قانون

کورني او بهرني کار پوهان  به له کميسيون سره داساسي قوانينو د ډول ډول بيلگو ځيرنه کوي
.
ددغه کميسيون يوه عمده دنده له عامه خلکو او دهغوی له اساسي مرکزونو سره دپراخو مشورو تر سره کول دي . د کميسيون غړي دافغانستان هر ولايت ته او همداراز ايران او پاکستان ته او دامکان په صورت کی نورو هيوادو ته هم سفر وکړي تر څو چې هلته له افغانانو سره سلا مشورې وکړي . همداراز په هيواد کي دننه اوله هيوا دځخه بهر هيواد والوته به حق ورکړل شي چې کميسيون ته خپل وړانديزونه او داساسي قانون دتسويد کميسيون ته خپلی سپارښتنی راوليږي.
تر عمومي سلامشورو وروسته به کميسيون داساسي قانون مسوده د 1382 کال دسنبلې پر اتمه (2003 کال دآ گست پر 30 ) نيته بشپړه او ددولت درئيس حضور ته وړاندې کړي او بيابه هغه ملت ته درسولو په نيت چاپ کړي . د کميسيون غړي به يو ځل بيا دسپتمبر په مياشت کې دافغانستان هر ولايت ته سفرکوي چې خلک دمسودې پر محتوياتو پوه کړي . او هم هغوی ته ځرگنده کړي چې څه ډول دهغوی نظرونه او سپارښتنی داساسی قانون په مسوده کی په نظر کی نيول شوي دي.

## د دارالانشا ونډه

دارالانشاء به داساسي قانون دتسويد دکميسيون ،کميسيون او داساسي قانون لويې جرگې ته حمايتي مرستې برابروي . داساسي قانون دتدوين د بهير لپاره يوه اغيزمنه  مستعده او په يومناسب مهال ويش برابره دارالانشاء مهمه او لازمه ده .
دپروسې ددوهم پړاولپاره به ددارالانشاء دندې په لاندې  توگه وي :

- دکميسيون د رئيس په مشوره دکميسيون غړيو ته دضرورت په صورت کې  دکميسيون ترجوړيدو دمخه دلازمو معلوماتو برابرول.
- دکميسيون دمالي چاروتنظيمول.
- دکميسيون لپاره د منابعواوامکاناتو برابرول.
- دملگروملتونو دفتراو داساسي قانون کميسيون ته دضرورت په صورت کې  دمالی چارو ، دکاردپرمختگ اودفعاليتونو درپوټونو تهيه او وړاندې  کول  .
- د دارالانشاء دورځنيو دندواوفعاليتونوڅارنه کوي.
- دکميسيون دغونډی په هکله پر ټاکلي وخت اطلاع ورکول اوددغې غونډې دپريکړو دبشپړ ريکارډ له ساتلوځخه د ډاډ تر لاسه کول.
- دا ډاډ ترلاسه کول چی دکميسيون ټولوغړيودکميسيون د غونډی دفيصلی بشپړ رپوټونه تر لاسه کړي دي .

دکميسيون دکار داسانتيا لپاره ددارلانشأ دنويو ځانگو پرانيستل .
دکميسيون دکار داسانتيا له پاره دسيمه ييزو او ولايتی دفترونو پرانستل .

- دا ډاډ ترلاسه کول چی دکميسيون پريکړې تعقيب او عملي کيږي.
- دکميسيون ټولوفرعي کميټوته دلازمو مرستو برابرول.
- دکميسيون دټولو اسنادواو اموالوثبت او دهغو دريکارډ ساتل.
- ددارالانشاء د کارکوونکو داستخدام او  انتظام  لپاره داصولو او مقرراتو جوړول.

- دکمسیون اودملگرو ملتونوپه مشوره ددارالانشاء د اړتیا وړ کسانواستخدامول په داسي څرګنده بڼه چې جنسي او قومي برابري په کې په پام کې نیول شوې وي . او هم درقابتي امتحانو لارې غوره شوي وي .
- دارالانشأ به دکمیسیون دکار دملاتړ لپاره اداري مامورین استخدام او همدارنګه کمیسیون ته داسانتیاوو دبرابرولو په منظور به دغه لاندې څانګې پرانیزي :

I. **مطبوعاتي دفتراود مطبوعاتو دڅارنې څانګه:** نوموړی دفتر به دوه منظم (Full time)-کارکوونکي ولري او درئیس لپاره چې دویاند په توګه هم کارکوي دمطبوعاتي کنفرانسونو دجوړولو زمینه برابروي همداراز نوموړی دفتر به مطبوعاتی خپرونې په منظم ډول تهیه او خپروي، مطبوعات به څاري او خپل راپورونه به ویاند ته سپاري او ددې لپاره چې ډېر دقیق معلومات خلکواومطبوعاتوته ورکړل شي هغه/هغې ته دمطبوعاتي ستراتیژۍ په برخه کې مشورې ورکوي .

II. **دعامه خبرونی څانګه:** ددی څانګې کارکوونکي به دخلکو دخبرونې لپاره داساسي قانون دتدوین د بهیر په برخه کې معلوماتي/ تعلیمي کمپاین تنظیموي.همداراز له مطبوعاتو اودمدني ټولنې له کارکوونکو سره به په ګډه خلکو ته په پراخه پیمانه معلومات ورکوي . دعامه سلا مشورې دپروسي کارکوونکي ، دامعلومات دبیلابیلو سیمو اوولایتونواوسیدونکوته دعامه سلا مشورې دپروسي ترپیل کیدومخکې رسوي. په همدی توګه دغه دفترمسوولیت لري چې داساسي قانون دمسودې ،همداراز د منل شوي اساسي قانون یوه – یوه کاپي داساسي قانون دمتن له داسې یوه لنډیز سره چې په هغه کې ټول محتویات په ساده ژبه څرګند شوي وي ، تهیه کړي.

III. **ځیرنه، راپوروركول او د سندونو برابرول:** داڅانګه دنده لري چې ټولی رارسیدلې غوښتنې وڅیړی، دموادو اواسنادودساتلو لپاره به یو کوچنی کتابتون جوړ کري او هم دټولو غونډو اوناستو ګزارشونه ولیکي ؛ او دعامه سلا مشورودپروسې رپوټونه به تحلیلوی او راغونډوي به یي. ددی څانګی ټاکل شوي راپورټران به دکمیسیون دموضوعي کمیټو او دعامه سلا مشورو د پروسي له پاره کارکوي .

## عمومي سلا مشورې

ددې پروسي دهماهنګی چارې دکابل ددفترپه غاړه دي چې په بیلابیلو سیمواو ولایتونو کې به نهه سیمه ییزدفترونه پرانیزي دادفترونه د خلکو دسلا اخیستنې د بهیر لپاره آسانتیاوې برابروي.
دارالانشاء به دټولو څانګو د پیاوړتیا لپاره پلانونه طرح کوي چې کارکوونکي یې وکړای شي په اغیزمنه توګه خپل کارونه پرمخ بوځي . دعامه سلا مشورو دبهیر سیمه ییز او ولایتی کارکوونکي به دلازمو زده کړو لپاره کابل ته راغوښتل کیږي چې وکړای شي په اغیزمن او منظم ډول نوموړی پروسه تنظیم او اجرا کړي .
دعامه سلا مشورو دپروګرام کارکوونکي به دهغو سیمو او ولایاتونوله شرایطوسره سم چې په کې کار کوي دیوې امنیتي ستراتیژۍ په جوړولوکې برخه واخلي. دژورنالستانو له پاره به هم داساسي قانون د بهیر په اړه پوهنیزورکشاپونه جوړشي چې ټول ملت ته د نوموړی پروسې په هکله ریښتونی معلومات چمتو کړای شي.

# عامه پوهونه

دعامه پوهوني  د پروګرام ونډه ځکه زيات ارزښت لري ، چې خلکوته داساسي قانون دجوړوني دبهيراو په هغه کې ددوی دونډې په هکله ريښتونی معلومات برابروي. د عامه پوهوني څانګه داساسي قانون دجوړلودبهير په هکله خلکو ته د معلوماتو دورکولو لپاره داسې پروګرام جوړوی چې لاندې مطالب به په کې وي :

- په دې هکله معلومات چې اساسي قانون څه شی دې اوڅنګه کولای شي دخلکو پر ورځني ژوند باندې اغيزې ولري . په همدې توګه داساسي قانون په اړه بنسټيز مسايل.
- په افغانستان کې داساسي قانون دتدوين تاريخي بهير.
- دبن پريکړه ليک او داوسني حکومت جوړښت .
- داوسني اساسي قانون دجوړولو دبهيرتشريح .
- په ياد شوي بهيرکې دخلکو  د ګډون ارزښت.

نوموړی پروګرام به دامکان ترحده  دټولنيزو، اقتصادی ، ډله ييزو، مذهبي ، جنسي او روزنيزوځانګړنوټول اړخونه را ونغاړي.همداراز به دمعلولو اوبې وسه ډلوحالت ته هم پام وساتي دا کمپاين به دګټورو سلامشورودتر لاسه کولو لپاره لاره هواره کري . دعامه پوهوني د تيمونو غړي به په بيلابيلو سيمو اوولايتونو کې خلکو ته دغه معلومات مخکې تر دې چې دعامه پوهوني مرحله پيل کړی، ورسوي .

ددارالانشاء دعامه پوهوني څانګه دمدني ټولني له کارکونکواو نورو ډلو سره اوږه په اوږه د پروګرام  دتطبيق لپاره کارکوي او هغوی ته د موادوپر تهيه کولو سربيره ددغه نصاب دعملي کولو لپاره سپارښتني او وړانديزونه چمتو کوي .

دعامه پوهوني څانګه له کميسيون سره په دې برخه کې مرسته کوي چې داساسي قانون دمسودې دپوهولو لپاره يو عام فهمه لنډيز جوړ کړی. دا څانګه وروسته له دې چې لويه جرګه اساسي قانون تصويب کړي دتصويب شوي متن دپوهولو لپاره د همداسې يو لنډيزپه جوړولوکې له کميسيون سره مرسته کوي . دپوهولو لپاره جوړشوی لنډيزونه داساسي قانون د جوړښت بنه د ساده الفاظو په مرسته بيانوي او داساسي قانون په متن باندې دعامه وګړيو دپوهولو لپاره ديوې وسيلې په توګه کار ورکوي له دغو لنډيزونو څخه به مخکی تر دی چې په لويه جرګه کې داساسي قانون پرمسوده خبرې اترې وشي دجرګې دغړيو دپوهولو لپاره کار واخيستل شي. هغه

مهال چې د لویې جرګې له خوا اساسي قانون تصویب شي نود تصویب شوي متن دپوهولو لپاره به نور لنډیزونه جوړ کړای شي او پر عامو خلکو به وویشل شي . مطبوعات او مدني ټولنې به داسي پروګرامونه جوړکړي چې دهغو له لارې اساسي قانون خپور شي اودا ډاډ تر لاسه شي چې ټول خلک داساسي قانون په بنسټیزو منځپانګو پوهیدلي دي .

## دعامه سلا مشورو لړۍ

داساسي قانون دکمیسیون غړي دعامه سلا مشورو بهیرپرمخ بیایې چې دهغه په پایله کې دافغانانو افکار، نظریې ،هیلې او سپارښتنې مخکې تر دې چې داساسي قانون مسوده بشپړه او لویې جرګې ته وسپارل شي څرګندې شي.
دعامه سلا مشورې بهیر به دوه میاشتې وخت ونیسي چې په دې موده کې به دکمیسیون غړي دافغانستان ټولو 32 ولایتونو ، ایران ، پاکستان او دامکان په صورت کې نورو هیوادونو ته سفروکړی چې هلته له میشتو افغانانو سره سلا مشورې وکړي. دوی به هڅه وکړي چې له عامو خلکو او دټولني له غوره شخصیتونو سره پر لیدنوکتنو سربیره عام خلک دې ته وهڅوي چې داساسي قانون دمسودې په هکله خپل نظرونه سپارښتنې او وړاندیزونه په لیکلې بڼه چمتواو کمیسیون ته یې وړاندې کړي . دکمسیون غړی به هڅه وکړي چې دخلکوغوښتنې داساسي قانون په چوکات کې ځای کړي .
دغه پروسه به داسې طرح شي چې دکمیسیون او عاموخلکو ترمنځ ځانګړو سلا مشورو ته لاره هواره شي او په عین حال کې د دې مخه ونیسي چې یو شمیرخاصې ډلې دغه پروسه دخپلو شخصي ګټو د تر لاسه کولو لپاره راوڅرخولای شي. دامکان په صورت کې به دغه پروسه دپرانیستو غونډو په ترڅ کې عملي شي. ددې لپاره چې په پروسه کې ګڼ شمیر خلک را ګډ کړای شي او په ژوره توګه مسایل وڅیړل شي دکمیسیون غړي به هڅه وکړي دخلکو ټولې پرګنې په بیلابیلو غونډو کې سره کینول شي. دا ډلې له قومی مشرانو، عالمانو ، ښځو ، داضطراري لویې جرګې غړو، سوداګرو، دپوهنتون داستادانو، مسلکی کسانو ، ځوانانو، دغیردولتی – ملی او نړیوالو مرستندویو موسسوله غړیو څخه ، عبارت دي . داړتیا او امکان په صورت کې به له نورو ډلوسره هم مشورې وشي.
دکمیسیون غړي به(9) ګرځنده مشورتي ملی ټیمونه جوړکړي چې ټولو سیمو او ولایتونو ته ورسیدلای شي او په عین حال کې به یو ټیم په کابل ښارکې وي ، دکابل د ټیم غړی به ایران او پاکستان ته هم سفر کوی دارالانشا به اته سیمه یز دفترونه جوړ کړي. د هرې سیمې منتظم (کواردیناتور) به په هر ولایت کې کارکوونکي وټاکي چې دکمیسیون غړیو ته به دعامه سلامشورو په غونډو کې آسانتیاوی برابرې کړي . دغه ولایتی کارکونکي به ولسوالیوته هم سفر وکړي چې خلک دعامه پوهونې په پروسه خبر کړي او دکمیسیون له غړیو سره به دداسي غونډوپه جوړولو کې مرسته وکړی چې دهغو په پایله کې ډاډ ترلاسه شي چې د ګنو سیمو خلکو په پروسه کې ګډون کړی دی.
هر سیمه ییز دفتر به په پوره اندازه کارکوونکي اوبشپړ ارتباطي وسایل ولري چې په کابل کې له کمیسیون او دارالانشاء سره منظم تماس وساتلای شي. د یوناما (UNAMA) سیمه ییزدفترونه به ددغو دفترونوله غوښتنو سره سم دامکان ترحده مرسته کوي . سیمه ییز دفترونه به داساسي قانون په هکله دمعلوماتو دخپرولو دبنسټیزو مرکزونوپه توګه فعالیت کوي او دپروسې ترختمیدو پورې به هملته کارکوي.

هر دفتر به دعامه پوهوني يو كاركوونكى ولري چې داساسي قانون دتدوين دپروسې په برخه کې لازم معلومات برابر كړي. تر دې وروسته چې كميسيون اساسي قانون بياتسويد كړي دكمسيون مشورتي ټيمونه به ولايتونه ته ورستانه شي چې اساسي قانون خلكو ته تشريح كړي او سيمه ييز دفترونه به يوځل بيا دسپتمبر په مياشت کې دې پروسې ته اسانتياوې برابرې كړي.
دكميسيون غړى به له اړونده دولتي كاركوونكو سره تماس ولري چې دمشورو دخوندي بهير په باب داډ ترلاسه كړي. او هم به داساسي قانون دمسودي په هكله ددوى نظرونه ترلاسه كړي. پردي سربيره دكميسيون هغه غړى چې په كابل کې پاتې كيږي دوى به له پوهانو،اقتصادپوهانو،او دوزارتونوله كاركوونكوسره دموضوع په اړه لازمي سلا مشورې وكړي
دكميسيون دهرټيم لپاره به دوه راپورټران وروزل شي چې وكړاى شي دغونډو دقيق گزارش برابركړى ددې لپاره چې ډاډ تر لاسه شي چې دغونډو ټول جريان بشپړ تر لاسه شوى دهرې غونډى خبرى به په فيته کې ثبتيږي . په مركزي دفتر کې به د تحليلوونكو يو داسې ټيم رامنځ ته شي چې له ولايتونو څخه رارسيدلي راپورونه به تنظيموي دا راپورونه دكميسون له غړيو سره مرسته كوي چې دخلكو ملى غوښتنې تشخيص كړي او په بيلابيلو نظرونو کې رامنځته شوي توپيرونه او اختلافات د لويې جرگې تر جوړيدو مخكې په سوله ييزه او مصلحتي توگه حل كړي .

## داساسي قانون دلوې جرگې دنده

داساسي قانون دلويې جرگې دنده داده چې اساسي قانون تصويب او هغه ته مشروعيت ورو‌بښي .
داساسي قانون لويه جرگه به د 1382 كال دميزان (2003 كال داكتوبر) په مياشت کې راوغوښتل شي چې داساسي قانون پر مسودې له پوره بحث وروسته هغه تصويب كړي. همدااوس په دې باندې خبرې كيږي چې دلويې جرگې دغړيودټاكلواودجرگې دجوړلو لپاره ميكانيزم جوړ شي .
دلويو جرگو له دود سره سم به داساسي قانون لويه جرگه دافغانستان دخلكو دارادى ترټولو اوچته ښكارندويه غونډه وي چې له ټول ملت څخه به استازيتوب كوي او په هغې کې به تر پوره غوراو څيړنو وروسته اساسي قانون تصويب شي . ددى لپاره چې ټول استازي دمسودې په هكله په خبرو اتروکې سمه برخه واخيستلاى شي نولومړى به دهغوى لپاره يوه اونۍ داسې پروگرام جوړشي چې دهغه په لړ كي به داساسي قانون دمسودې دمنځپانگو او دلويې جرگې دكړنلارې په هكله بشپړ معلومات وركړل شي .
دلويې جرگې بهير ددې لپاره يو ډير ښه مهال دى چې دغوره ملي مسايلو په اړه په کې توافق رامنځ ته شي همداراز په دې موده کې به په هغو اختلافاتو او لانجو هم سلا اوجوړجاړى رامنځ ته شي چې دعامه پوهوني په بهير کې او دمسودې تر څيړيدو وروسته رامنځ ته شوي دي.
دارالانشاء به داساسي قانون لويې جرگې ته اداري آسا نتياوې برابروي

## دملگرو ملتونو مرسته

دبن دپريكړو او دافغانستان داسلامي انتقالي حكومت دوړانديزونوله مخې، ملگري ملتونه (UNAMA) او دافغانستان داساسي قانون دتدوين د پروسې ملاتړ كوي . په دې اړه به

(UNDP) په ګډه یوه داسې ملاتړې پروژه جوړه کړي چې داساسي قانون دتدوین له درې ګونوارګانونو : دتسوید کمیسیون ، داساسي قانون کمیسیون،لویه جرګه او دارالانشا سره مرسته وکړای شي. د پروژی له اسنادوسره سم (UNAMA) دنده لري چې کمیسیون ته نړیوالي مالي او تخنیکي مرستې هماهنګې کړي. او(UNDP) به د اساسي قانون دتدوین په بهیرکي دمالي ، اداري او اجرائیوی چارو په سمبالولو کي مرسته تر سره کوي .
(UNAMA) اوپه ځانګړې توګه داساسي قانون دتدوین له کمیسیون سره ملاتړ څانګه به په منظمه توګه نړیوال مرستندویه ارګانونه،دکارونو له پرمختیا او دکمیسیون له اړتیاو څخه خبروي او له کمیسیون سره به دمرستو د برابرولو په برخه کي اسانتیاوې رامنځ ته کوي .

## مهالویش او دکار پلان

***د دلو له دولسمې څخه دحوت ترنهمې پورې( دفبروري له 1 تر 28)***

دارالانشا دکمیسیون دملاتړ له پاره خپل تشکیلات پراخه کړي. دارالانشا به دلاندنیو څانګو دجوړولو لپاره کارکوونکي استخداموي:
دمطبوعاتو د څارنې څانګه، دعامه پوهونې څانګه، دعامه سلامشورو دتر لاسه کولو څانګه دخیړنو، ریوټ ورکولو او داسنادودتنظیمولو څانګه همداراز به په مالی او اداری برخو کې یو شمیر کارکونکي وګوماري . له دی پرته به دعامه سلامشورو بهیرته داسانتیاودبرابرولو لپاره دارالانشا دملګروملتونو دسیمه ییزو دفترونو په مرسته خپلو سیمه ییرو دفترونو ته یو شمیر کارکونکي وټاکي او هم به دهر ولایت لپاره یو تن سلا مشورو هم اهنګ کوونکي وټاکي
دارالانشا به دخپلو کارکوونکو دکاري ظرفیت دلوړولواودفتردکاري طرزالعملونو دپراختیالپاره یوروزنیز پروګرام جوړکړي. داروزنیز پروګرام به نه یوازې داچې داساسي قانون دتدوین پروسه پیاوړې کړي بلکې په راتلونکی کې به له انتخاباتي او پارلمانی بهیرونو سره هم مرسته وکړي. دارالانشاء په پام کې لري چې د کارکوونکو داستخدام پر مهال قومي او جنسي توازن په نظرکې ونیول شي.
* دارالانشاء داساسي قانون دبشپړ کمیسیون دجوړیدولپاره دغه اسانتیاوې برابروي :
ددفتر لپاره دوداني چمتوکول ، دمنابع تهیه کولو، دکمیسیون دپرانستلو لپاره چمتووالی، له روانې پروسې سره دکمیسیون دغړیو د بلدتیا لپاره د ورکشاپ جوړول .
* دارالانشا به دکمیسیون دغړیولپاره چې دکمسیون دچارو دترسره کولو لپاره کابل ته راځي لوژستیکي چارې لکه ترانسپورټ ، داستوګنې خوندي ځای او نورخدمات برابروي . همداراز دغړیو لپاره دغونډې داسې خونه چې خپل کارونه په کې وڅیړي چمتوشوې ده.

***دحوت له لسمې څخه دحمل تر یولسمې پورې: ( دمارچ له1 تر30 )***

دعامه پوهونې څانګه به دمطبوعاتو او د مدني ټولنې دکارکونکوپه مرسته دعامه پوهونې یو کمپاین په لاره اچوي چې خلک د عامه سلامشورو دپروسې لپاره چمتو شي. دارالانشا هڅه کوي چې دامکان تر بریده افغانان له دغې پروسې څخه خبرکړي.

* دمارچ دمیاشتې په لومړی نیمايي کې دتسوید کمیسیون داساسي قانون لومړنۍ مسوده چمتو کوي اوله دې سره یوځای به داسې یو راپور هم بشپړ کړي چې په هغه کې داساسي قانون عمده ټکي شرح شوي وي . دغه راپور به د کمیسیون غړو ته وویشل شي .
* دڅیړنو، گزارش ورکولو،او داسنادودټولولوڅانگوبه په رارسیدلو نظرونو او وړاندیزونو تر غور او بحث وروسته دغه موادپه یوه دیټا بیس یا (معلوماتی بانک) کی خوندي کړي. همداراز به دعامه سلامشورې له پروسې څخه هغه معلومات چې داپریل دمیاشتې تر نیما یې پورې رارسیږي تحلیل اوتجزیه کړي . له دی وروسته به ژباړونکي خپل کاري ظرفیت پیاوړی کړي چې ددغې پروسې قانوني، حقوقي او تخنیکي اصطلاحات وژباړي او همدارازبه دعامه سلامشورې دپروسې لپاره دموادو په ژباړلو کې مرسته وکړي .

***د حمل له دولسمې دثور تر لسمې: (داپریل له1 تر 30 )***
* دکمیسیون دغړو دټاکلو پروسه په بریالیتوب ترسره شوه. اودا ډاډ ترلاسه شو چې کمیسیون د امکان ترحده یو نماینده ارگان دی . او یوتن درئیس په توگه وټاکل شو.
*دلويي جرگې دجوړیدو په اړه دیوفرمان صادریدل . او ددغې جرگې دجوړیدو دځرنگوالي لپاره دطرزالعمل دجوړلو لپاره چمتووالی.
* داساسي قانون دکمیسیون غړي به لوړه کوي، پراصولو، طرزالعملونو، دکارپه موده او داساسي قانون په منځپانگې به توافق ته رسیږي. کمیسیون به داساسي قانون لومړنۍ مسوده ، دتسوید دکمیسیون له خوا جوړشوی راپور اوداساسي قانون دکارپوهانو له خوا دکلیدي مسایلو په اړه جوړشوي اسناد گوري او ځان به پرې خبروي .
* دارالانشاء به دمطبوعاتو دڅارنې داسې یوه څانگه جوړه کړي چې دکمیسیون له رئیس او ویاند سره دخپرونو په برخه کې مرسته وکړي.
* دارالانشاء به دخپلو سیمه ییزو کارکونکو دټاکنې کار چې دعامه سلامشورې له پروسې سره مرسته کوي ، بشپړ کړي . سیمه ییز کارکونکي به تر روزنې وروسته اړوندو سیمو ته ستانه شي چې د عامه سلامشورو دپروسې دپیل کولو لپاره خپل دفترونه پرانیزي .
* دارلانشأ دعامه پوهونې دپروسې ستراتیژي ، پالیسي او مواد بشپړ کړي .
* دارالانشابه د مطبوعاتو، دمدنې ټولنې کارکونکو،او دولتي اوغیر دولتي موسسوپه مرسته دعامه پوهونې کمپاین په لاره واچوي.
* دعامه سلامشورې په پروسه کې دتدوین لپاره دکمیسیون دغړیو اوددارالانشاء دکارکوونکو چمتو والي لپاره به کاري ورکشاپونه جوړشي.

***دثور له لسمې نیټې څخه دسرطان تر لسمه پورې: (دمې له لومړی نیټې څخه دجون تر پایه)***
* د افغانستان په ټولو سیمو او ولایتونو، په ایران او پاکستان او دامکان په صورت کې به په نورو هیوادنوو کې دمیشتو افغانانولپاره دعامه سلامشورې بهیرعملي شي.
* راپورتران به دعامه سلامشورې له بهیر څخه بشپړ رپوټونه جوړ او بیا به یې ټولومشوره کوونکو ډلو ته وویشي هغوی به په دې ډاډه کړي چې نظریات او غوښتنې ټول ثبت شوي دي. دغونډې جریانونه به دغږ ثبتونکي ټیپ په وسیله ثبت شي خو ویډیویي ثبت یې دخوندیتوب ددلایلو له مخې نه ترسره کیږي.
* دعامه سلا مشوروپروسه دجون دمیاشتې په پای کې بشپړیږي .
***دسرطان دلسمې نه دسنبلې تر لسمې پورې: (دجولای له لومړی نیټې څخه داگست تر 30 )***

* كميسيون دعامه سلامشورو له پروسې څخه ترلاسه شويو نظر ونو څخه جوړ شوي رپوټ بشپړوي.
* دكميسيون بيلابيلي كاري كميتي خپلي سپارښتني چې دعامه سلامشورو له جريان څخه ترلاسه كوى بشپړوى او دكميسيون عمومي غونډې ته يې وړاندې كوي.
* دكميسيون عمومي غونډه داساسي قانون دمسودې او دهغې په اړه ديوه راپور په جوړولو سره سلاكيږي.
* مسوده به په دواړو رسمى ژبو تهيه اووويشل شي .
* دمسودې داسي لنډيزبه جوړكړاى شي چې دمسودې عمومي بنه تشريح كړي او دحكومت دجوړښت څرنگوالى دساده اصطلاحاتو په مرسته انځوراوتشريح شي.

### ***سنبله او ميزان ( سپتمبر)***

* كميسيون او دعامه پوهوني كاركونكي به دهيوادولايتونو ، ايران او پاكستان ته سفرونه وكړي چې خلک په مسوده وپوهوي همدارز په دې لاره كې به له مطبوعاتو څخه گټه واخيستل شي .
* داساسي قانون دلويې جرگې جوړولولپاره دترتيباتودنيولو بشپړتيا.
* د 4 يا 5 ورځولپاره به داسې يو پروگرام جوړشي چې دهغه په ترڅ كې دلويې جرگې غړي وكړاى شي يو له بل سره همداراز دجرگې دكارى بهيراو مسودې سره اشناشي.

### ***ميزان او عقرب (اكتوبر)***

* داساسي قانون لويه جرگه به داساسي قانون دتصويب لپاره جوړه شي .
* دعقرب په دريمه( داكتوبر په 25 ) نيټه به د افغانستان اساسي قانون تصويب شي.

***دعقرب د لسمې نيټې څخه دجدى تر لسمې پورې: (نوامبر او دسمبر)***

*ددارالانشاء اساسي كاركونكي به دتصويب شوي اساسي قانون په هكله دخلكو دخبروني په كمپاين كې برخه واخلي.

# دريمه برخه

# داساسي قانون په باب معلوماتي مواد

## نيوليک


| ګڼه | سرليک | مخ |
| --- | --- | --- |
| 1- | سريزه | 29 |
| 2- | اساسي قانون څه شی دی؟ او موږ ولې هغه ته اړتيا لرو؟ | 31 |
| 3- | داساسي قانون محتويات څه دي؟ | 34 |
| 4- | په افغانستان کې د اساسي قانون د تدوين څرنګوالی | 35 |

5- کوم ارګانونه د اساسي قانون په جوړونه کې ونډه لري؟ 36

6- د اساسي قانون د بهیرپه اړه د عامه پوهونې د څرنګوالي... 38

7- د اساسي قانون د تدوین په بهیر کې د خلکو برخه اخیستنه... 41

8- اساسي قانون له نورو قوانینو سره څه اړه لري؟ 43

9- اساسي قانون څرنګه کولای شي د افغاني ټولنې اصول او... 44

10- ددولت جوړښت کولای شي له قدرت څخه د بدې... 45

# بسم الله الرحمن الرحیم

## سریزه

د لوی خدای (ج) شکر ادا کوو چې دهغه په مرسته د اساسي قانون د تسوید کار یې په کامیابۍ سره سرته ورسید او خوښ یو چې دافغانستان سوله خوښونکی او نجیب ملت ددغه نوي مرحلی له پیل څخه خبر وو.

دافغانستان له ټول ملت څخه غوښتنه کوو چې ددغې لویې اوملي وثیقې د تدوین په بهیر کې په پراخه توګه برخه واخلي.

دغه سند له اسلامي ارزښتونو، د افغاني ټولنې، د ملي ارزښتونو، د دموکراسۍ د اصولو ، دبشر د حقون، ټولنیز عدالت، ګډ پالنې او دجهاد د سپیڅلو ارزښتونو په نظر کې نیولو سره مطابقت لري.

دغسې یو سند له شک څخه پرته فردي ټولنیزې ازادۍ او حقوق تامینوی همدا رنګه کولای شي چې د ملي یوالې، اوسوله، ټولنیز عدالت، اقتصادي ازادۍ او عامه ګټو په تامین کې ټول ملي لاس ته راوړي.

مونږ په دی باور یو چې اساسي قانون د خلکو او دخلکو د حقونو د تضمین او تامین لپاره دی او یوازې په هغه صورت کې د احترام او استقبال وړ ګرځي چې خپله د قانون د تدوین په بهیر کې د خلکو د ونډې په اخستلو سره د هغوی اجتماعي او فردي حقوق په رسمیت و پیژني. له دی لارې

نه خلک قانون او د قانون جوړونې واحدونه يا ارګانونه د خپلو حقونو او ګټوساتونکي وګڼي.

نن ورځ د سياسي نظامونو د مقبوليت (منبت) او روا والي يوازينی اساس ملت ته د حاکميت دحق سپارل دي. نړيوال اعتبار او قانوني ارزښت هم په همدې معيار سره ارزول کيږي. بيا هم همدا خلک دي چې اساسي قوانينو ته مشورعيت ورکوي او له همدې لارې څخه د نظام جوړول، د حکومت شکل او خپلې ټولنيزې ټګلارې انتخابوی همدا علت دی چې د اساسي قانون په پروسه کې د افغانستان خلک ټاکونکې ونډه لري

عامه سلا مشورې عمومي نظر غوښتنه او د اساسي قانون لويه جرګه د نوي اساسي قانون په تدوين کې د خلکو د ځواکمنې ونډې او نقش بيانونکي دي.افغانستان دهر څه تر مخه د نوي ژوند د شروع کولو لپاره چې په ازادۍ، عدالت او اعتبار ولاړ وي نوې اساسي قانون ته اړتيا لري، هغه قانون چې وکولای شي سوله، نظم او امنيت د جنګ د کلتور ، خوا بدۍ اوګډوډۍ ځای ونيسي. او د افغانستان له نجيب ملت سره مرسته وکړي چې د اسلامي ملي هويت په حاصلولو سره نړيوال اعتبار تر لاسه کړي او ملت له مقتدر، ملي او مشروع (روا) سياسي نظام څخه برخمن شي د ملي يوالي اړيکې او ريښې ټينګې کړي ترڅو په اخر کې د راتلونکو لپاره دسر لوړۍ، عزت او افتخار زيری راوړي څومره چې خلک پوره خبر دي او سترګې په لاردي چې اساسي قانون يې ټول حقونه، ارمانونه او هيلې تامينوي او ټولو ګډوډيو ته به دپای ټکې کيږدي.

تمه کيږي چې ټولې غوښتنې او حقونه به يې د قانون له لارې تامين شي.

نو بايد په شعوري اوخپلواکې ونډې اخيستنې سره دملي اسلامي وثيقې په منځ ته راوړلو کې فعاله برخه واخلي.

سربيره پردې د ټولو روشنفکرانو، عالمانو د قومي د مشرانو ، د پوهنتون د استاذانو، د غير حکومتي موسسو، د مدني ټولنو دکارکونکو، دجريدو او ازادو مِطبوعاتو ، دولت او ددولت له ټولو منسوبينو نه غوښتنه کيږي چې ددغې ملي وجيبې په ادا کولو کې زمونږ ملګرتوب وکړي او د اساسي قانون په اړه د عامه معلوماتو ( دخلکو د پوهې) سطحه لوړه کړي. ځکه چې خبريدنه او پوهيدنه په اساس قانون کې د خلکو د فعالې ونډې اخيستنې لپاره لازمي شرط دي.

د عامه پوهونې يا خبرونې له ټولو کارکونکو څخه ترهرڅه وړاندې مننه کوو او د ټولو افرادو او نهادونو جوړونکو وړانديزونو او نظرياتو ته سترګې په لار يو .

په ډاډ سره چې نوی مکمل اساسي قانون به ستاسې نظريات او وړانديزونه له ځان سره ولري.

**اساسي قانون څه شی دی ؟ او مونږ ولې هغه ته اړتيا لرو؟**

مونږ ټول پوهیږو چې د ټولو قوانینو په سر کې یو لوړ قانون وي چې قانونونه له هغه څخه مشروعیت اخلي چې دغه لوړ قانون د اساسي قانون په نوم یادیږي. ددې لپاره چې پوه شو اساسي قانون له څه شي څخه بحث کوي ښه به وي چې د بیلګې په یادولو یې واضح کړو د بیلګې په توګه کومو خلکو چې پخوا په یوازیتوب او یو له بل څخه بیل ژوند کولو تصمیم نیسي د یو نوي سیاسي ټولنې او ژوند د منځ ته راوړلو لپاره د یو تړون په واسطه راټولیږي، کله چې خلک په دې ترتیب سره راټولیږي د خپلو چارو د تنظیم لپاره یو لړ نور تړونونه او پریکړې کوي چې کولای شي دغه ټول توافقات (تړونونه) د یوه قانون په شکل کې راشي چې د لاندې مسایلو لرونکي وي.

- د ټولنې مهم ارزښتونه کوم دي؟
- مشر یې څوک وي؟ مشر څنګه تعین یا انتخاب شي؟ ایا دغه مقام به میراثي وي ؟

یعني له مشر څخه وروسته یې اولادونه کولي شي دغه ځای پرته له دې چې څوک یې انتخاب کړي ونیسي؟

- مشر د استازو لپاره یا ټولو خلکو پواسطه د څه ټاکلي وخت یا د ټول عمر لپاره انتخابیږي.
- مشر (رئیس کوم واک و ځواک لري؟ د څه لاملونو له مخې افراد یو لړ خپل واکونه مشر ته ورکوي، ایا خلک د مشر په وړاندې له خپلو ټولو امتیازاتو څخه تیریږي او که خپل شخصي او هغه حقونه او اختیارات چې په خپلې کورنۍ پورې یې اړه لري ځان سره ساتي
- کله چې د خلکو حقونه او واکونه محدود(ټاکلي) شوڅه ضمانت شته چې مشر به د خپل قدرت نه ناوړه ګټه وانه خلي او هغه حدود چې خلکو ورته ټاکلي دي له هغو څخه تیری ونه کړي.
- په داسې حال کې چې اتباع (خلک)پوه شي چې مشر (رئیس) له هغه واکونو څخه چې ورته ورکړي تیری کړی دی، څه کړنې کولای شي؟
- ټولنه د خاصو ډلو (بې وسه، معلولین، ماشومانو او نورو) د ملاتړ او حمایت لپاره څه قواعد او معقولات لري، دوی د ټولنې او کورنۍ په وړاندې کوم مسئولیت لري؟
- هغه لګښتونه چې مشر یې د ټولنې د کارونو د پر مخ بیولو لپاره کوي د کومې منبع څخه او څنګه پوره کیږي.
- د اتباعو مکلفیت او حقونه څه دي؟ د اتباعو د حقونو او مکلفیتونو په اړه څوک تصمیم نیسي؟ د افرادو د خپل منځني شخړو یا دولت او افرادو ترمنځ شخړو کې به څوک قضاوت کوي؟
- که چیرته خلک له خپل مشر څخه راضي نه وي کولای شي هغه لیرې کړي؟ که کولای شي څنګه؟
- که یو تن یا ډله هغه تړون چې په منځ کې یې شوی دی مات کړي له هغوی سره څه وشي؟
- دا تړون څنګه بدلیږي؟ که ځینې خلک و غواړي چې تړون بدل کړي څنګه یې کولای شي؟ د مشر په واسطه ؟ یا د عامو خلکو په واسطه؟

اساسي قانون معمولاً دې پوښتنو ته ځواب وائي، او په دې ډول د یو دولت قانوني نظام جوړوي په دې اساس دولتونه د یو داساسي قانون لرونکي وي، ګڼ دولتونه مدون (لیکلی) قانون لري چې پورتنیو پوښتنو ته ځواب وائي.

په عمومي ډول اساسي قانون نه شي کولای چې درعایت وړټول اصول بیان کړي او دا پدې مانا ده چې اساسي قانون د اوږدوالي او لنډوالي په لحاظ فرق لري، امکان لري یو اساسي قانون ډیر

اوږد يا ډير لنډ وي او دا موضوع په دولت پورې اړه لري، ځينې دولتونه اساسي قانون په تفصيل ليکي او دا ډول قانونونه ډير اوږده وي، ځني دولتونه بيا ډير مهم اصول په اساسي قانون کې يادوي او واړه مسايل عادي قانونونو ته پريږدي ترڅو عادي قانونونه د هغې په اړه تصميم ونيسي.
کله چې و غواړو په افغانستان کې د اساسي قانون د ضرورت په باره کې خبرې وکړو بايد ووايو چې : د افغانستان خلک په 23 درويشت کلن جنګ کې زياتو سختيو او کړاونو سره مخامخ شوي په دې وخت کې کله د بهرنيو تيري کونکو پلويانو اساسي قانونونه جوړ کړي چې د بندو در وازو ترشا به جوړيده او د افغانستان په مسلمان ولس به تپل کيده او کله به ځيني ډلې په خپل منځ کې لاس په ګريوان شوې او پدې نه دې برياليي شوي چې په سوله ايزه توګه حکومت وکړي.
کولای شو د افرادو د مکلفيت او د دولت د ځواک ناځرګندوالی چې اکثره د يو مدون اساسي قانون په واسطه ترسره کيږي په وطن کې د ګډوډيو د لامل په سوګه په ښه کړو.
اوس چې د يو مسئول ممثل دولت لپاره زمينه برابره شويده،
ښه به داوي چې د يو اولسي اساسي قانون په وسيله ددولت شکل او جوړښت ، د خپلو نورو هيوادوالو په وړاندی خپل حقونه او امتيازات هغه حقونه چې هغوی يې په مونږ لري، حقونه او مکلفيتونه چې مونږ يې ددولت په وړاندې لرو هغه امتيازات چې مونږ يې له دولت څخه غواړو او په اخر کې د خپل دولتي اداري سيستم وټاکو، دا يو غوره مهال دي چې وکولای شو په خپلو ستونزو برې و مومو او د يو هميشنی او دائمي سولې له نعمت څخه برخمن شو.
په 1380 لمريز (2001) ميلادي کال کې د ملت استازو په افغانستان کې د سولې د استقرار لپارهر اړخيزې هڅې وکړې او د 1343 لميريز کال د اساسي قانون په رڼا کې يې دوطن د چارو د اداري لپاره د يو موقتي اداري د تاسيس لپاره په اقداماتو لاس پوری کړ دغه قانون چې 23 کاله مخکې يعني د جنګ څخه ترمخه وضع شوی و له هغه څخه اوس هيڅ يو ارګان پاتي نه دي د بيلګې په توګه د نويو قوانينو د تدوين لپاره مقننه ارګان وجود نه لري، خپله پخوانی پاچا ( اعليحضرت د ملت بابا) چې اوس د پاچا په توګه دنده نه اجرا کوي او همدارنګه په سلګونو .

له دې سره سره چې افغانانو د موقتي اداري په هکله تصميم نيولي ده. مګر اوس تلپاتې او نوي پريکړو ته اړتيا لري چې بايد د افغانستان د خلکو په واسطه ونيول شي او دغه پريکړې واضح کړي چې د مملکت د چارو اداره څنګه ترسره کيږي او کومې اداري جوړې شي او دا د افغانانو لپاره يو طلايي چانس دی چې په خپلو ستونزو برياليي شي او د يوې روښاني راتلونکې په هيله اساسي قانون تصويب کړي چې هغه د خپلو ګډو اهدافو دلاس ته راوړلو لپاره هماهنګ کړي هغه مواد چې د اساسي قانون د تدوين په اړتيا دلالت کوي په لاندې ډول شمارل کيږي.

1- په داسې حال کې چې يو مملکت خپل نوی سياسي ژوند پيلوي په نړيواله کچه د نوي اساسي قانون د تدوين اعلان دهغې د زيږيدنې په حيث دی په دې مانا چې دغه دولت د خپل نوي اساسي قانون په تدوين سره اعلانوي چې دسياسي ودې پړاو ته يې ارتقا کړې ده او ددې په تصويبولو سره غواړي چې په نړيواله ټولنه کې د خپلو حقونو ددفاع له خاطر په نړيوالې ټولنه کې يو ځای شي د بيلګې په توګه ګينه په 1958 کال د اکتوبر په 12 خپله ازادي اعلان کړه ددې لپاره چې په نړيوال سازمان کې غړيتوب ترلاسه کړي په 1958 کال د نومبر په 10 لسمه يې خپل اساسي قانون اعلان کړ او د همدی کال د نوامبر په 12 دولسمه يې د نړيوال سازمان غړيتوب ترلاسه کړ.

2- ښه اساسي قانون بيلا بيلو برخو او ډلو څخه يو موټي ملت جوړوي او د ټولو لپاره مساوي حقوق او امتيازات په نظر کې نيسي.
3- د ټولنيز ژوند بيلا بيلو اړخونو د تنظيم لپاره عادي قوانينو منځ ته راځي چې ټولو قوانينو ته د اساسي قانون په وسيله مشروعيت ورکړل شي. که موږ ددې عادي قوانينو په سرکې اساسي قانون ونه لرو په حقيقت کې ټول عادي قانونونه غير قانوني دي.
4- نور عمده (غوره)دلايل دادي چې اساسي قانون ددولت او افراد و مکلفيت او حقوق يو دبل په وړاندي ټاکي او هم داچې هر اداري واحد څه ډول واک لري او په کوم ډول له خپل واک څخه ګټه واخلي ،په لنډ ډول کوم مملکتونه چې عصري او هراړخيز اساسي قانون لري اتباع يې که له مرکز څخه په ډيرو لرې سيمو کې اوسيږي په ناخبرۍ کې ژوند کوي او هر څوک د اساسي قانون په رڼاکې خپل حقونه واک او مکلفيتونه پيژني.

## د اساسي قانون محتويات څه دي

ځنګه مو چې مخکې يادونه وکړه اساسي قانون د اوږدوالي ، لنډوالي او تفصيل له مخې توپير لري مګر اکثره عصري قانونونه او له دې ډلې نه د افغانستان اساسي قانون لاندیني مسايل رانغاړي:

- هغه ارزښتونه او اساسي اصول چې د يوه هيواد د خلکو لپاره ضروري دي زياتره په سريزه کې ليکل کيږي
- ددولت جوړښت
- ددولت دواک او ځواک حدود.
- د اتباعو حقونه او مکلفيتونه ( چې زياتره د افرادو د حقوقو ازادۍ په فصل کې توضيح کيږي.
- د اولس اړيکې له دولت سره
- ددولت دبيل بيلوارګانونو تر منځ اړيکې
- د اساسي قانون د بدلون لارې چاې

## په افغانستان کې د اساسي قانون د تدوين څرنګوالې

که په افغانستان کې د اساسي قانون تاريخي سابقې ته وګورو مخکې له دې چې دغه نقشه په جغرافياي حدودو او سرحداتو کې محدوده شي افراديې په غوندو کې راټوليدل او دخپلو ټولنو د اساسي مسايلو په راټولولو يې پيل کولو که څه هم چې دغه مسايل ليکل شوي نه و خو داساسي قانون په عنوان منل شوي و. وروسته له هغې چې دا افغانستان جغرافيائي حدود وټاکل شول د اساسي تشکيلاتو (جوړښتونو) خاوند شو.
همدارنګه د ۱۳۰۱ لمريزکال څخه راپه دې خوا د تدوين شويو اساسي قوانينو خاوندان شوي هم دي پوهيږو چې زموږ مملکت د نورو هيوادونو په څېر د تدوين شوي اساسي قانون په جوړولو

کې ښه تجربه لري. د اولین اساسي قانون څخه چې په ۱۳۰۱ لمریز کال کې تصویب شو د اتو اساسي قانونونو په حدودو کې جوړ شوي چې یوازې پنځه یې د خلکو د استازو (لویې جرګې ) په واسطه تصویب شوي چې ددوام موده او عمر یې د حکومتونو له دوام او عمر سره فرق درلود.
نن ورځ د عامه خپروني د لوړوالي په دلیل د اړیکو د پراخوالي او د جنګ او هجرت څخه د تجربو د زیاتوالي په سیوري کې د ټولني د حیاتي مسایلو په اړه د خلکو نظر تغیر کړی دی او د اتباعو د حقونو او ازادیو په تامین کې د اساسي قانون دونډې درک کول او په موضوع کې غور د هیواد د حیاتي مسایلو په اړه د مسئولیت احساس د خبروني د پرمختګ او ودې بیانونکي دي په همدې اساس د نوي
اساسي قانون په تدوین کې عامې مشورې او د اساسي قانون په بهیر کې د ولس ګډون ته په لوړ ارزښت قایل شوي دي او دا د انتقالي اسلامي دولت او اړونده مراجعو د اهدافو څخه دي چې د نوي اساسي قانون په تدوین کې د اتباعو حقونه او غوښتنې په پوره ډول رعایت شي.
اساسي قانون د تدوین بیلو بیلو پړاونو باندې د تیریدنې په وخت په لنډ ډول اشاره کوو چې لومړنی اساسي قانون دافغانستان د عالیه دولت اساسي نظامنامې تر عنوان لاندې د امان الله خان د حکومت په وخت کې په 1301 ه ش کال کې تسوید او په 1302 ه ش (1923) میلادي د خلکو د استازو (لوې جرګې) په واسطه په جلال اباد کې تصویب شو.
دوهم اساسي قانون د افغانستان د عالیه دولت اصولو تر عنوان لاندي د نادرشاه د حکومت په دوران کې د یوې جرګې په واسطه چې د (ملي شوري ) په نامه یادیده په 1310 لمریز (1931) میلادي کال کې تصویب شو. بل اساسي قانون په 1343 لمریز کال کې دمحمد ظاهرشاه د سلطنت په وخت کې جوړشود بن دموافقت نامي په اساس دغه قانون د انتقالي دورې په وخت کې دهیواد د ادارې لپاره اساس شو نوموړي قانون یولس (11) فصلونه او (121) یو سل او یویشت مادې لري دوهم فصل یې چې په پادشاه اود هغه په واک پورې اړه درلوده منسوخ شو. په اخیر کې د 23 کاله جنګ او ورانی وروسته، په افغانستان کې ددایمي دولتي موسساتو د تاسیس پورې موقتي جوړښتونو موافقتنامه چې د بن د موافقتنامې په نامه یاده شوه او د افغانستان دخلکو د استازو په واسطه په ینځلسم د قوس 1380 لمریز کال چې د دسمبر 2001 کال سره سمون خوري لاسلیک شو.
دغه موافقتنامه په حقیقت کې په افغانستان کې د یو دایمي دولت د جوړښت او د یو مظبوط او باثباته دولت د منځ ته راوړلو چې د خلکو په واسطه د ازادو او دموکراتیکو انتخاباتو له لارې سرته ورسیږي یو چوکاټ دی. په دغه موافقتنامه کې د افغانستان د خلکو استازو موافقه وکړه چې د افغانستان قانوني سیستم د 1343 لمریز کال د اساسي قانون په چوکاټ کې تنظیم شي. د افغانستان د انتقالي اسلامي دولت جوړښت

## کوم ارګانونه د اساسي قانون په جوړولو کې ونډه لري؟

د افغانستان اسلامي انتقالي دولت د یو داسې اساسي قانون په جوړولو کې دی چې ډیر جامع وي او زمونږ د ملي هویت ساتندوی وي او په پراخه توګه د منلو وړ وي. ژمن دي دا تعهد دبن د موافقتنامي پربیسټ او مخصوصاً د افغانستان دخلکو حق ته احترام او د هغوی د راتلونکي ازاد

سیاسي ژوند، د اسلام د سپیڅلي دین پر اصولو، دموکراسي ګڼ پالنې او د عدالت پر اساس بنا شوی دی.
دې مقصد د تر سره کیدو لپاره درې اصلي ارګانونه وجود لري چې هریویې د اساسي قانون تدوین کې ځانګړی نقش لري.
د تسوید نهه کسیز کمیسون( د تسوید کمیسیون)
د اساسي قانون کمیسیون.
داساسي قانون لویه جرګه
دارالانشأ له یادوشویو ارګانونو سره مرسته کوي او د تسوید له کمیسون سره
د تخنیکي اداري اولوژستیکي چارو په هماهنګۍ کې مرسته کوي. او خپل فعالیتونه د اساسي قانون د کمیسیون بیلو بیلو سطحو ته پراخوي.
بین المللي ټولنه د ملګرو ملتونو تر لارښووني لاندې په نږدې ټرون سره د دارالانشأ او پورتنیو ارګانونو سره فعالیت کوي، ترڅو باور و مومي چې ددغې پروسې هریو ګام له فني او مادي پلوه د اساسي قانون د بریالیتوب د بشپړتیا لپاره له پورته مرستې څخه برخمن دي.
د تسوید نهه کسیز کمیسیون.
دغه نهه کسیز کمیسیون ددولت د رئیس له خوا د اساسي قانون د تسوید لپاره ټاکل کیږي. چې محترم پوهاند نعمت الله شهراني، د دولت درئیس مرستیال ددغه کمیسیون د رئیس په توګه دند ه ترسره کوي، ددغه کمیسیون مسئولیت د اساسي قانون لپاره د یوه لمړنی مسودې لیکنه او ترتیب دی چې دغه مسوده د یوې لمړنۍ طرحې په توګه یوه مجموعه ده. د اساسي قانون د ترتیب لپاره دا مسوده د اساسي قانون د انعکاس او همدا رنګه دهغه مسایلو د تنظیم لپاره چې په هغو کې د خلکو، وړاندیزونه له کمیسیون سره مرسته کوي د تسوید کمیسیون دا مسوده له خپلو وړاندیزونو سره یو ځاي د افغانستان د اساسي قانون په بڼه د کمیسیون د پرانیستلو په ورځ مکمل کمیسیون ته تسلیموي.

1: داساسي قانون کمیسیون.
دغه کمیسیون 35 تنه غړي لري چې وروسته له پراخو مشورو څخه د دولت د رئیس له خوا وټاکل شول او د کمیسون رئیس هم د همدغو غړو له مینځه ددولت د رئیس له خوا ټاکل کیږي.
ددغه کمیسیون اساسي دند ه داده چې د روان کال د وږي د میاشتې تر اتمې نیټې پورې د اساسي قانون مسوده د تصویب لپاره د اساسي قانون لویې جرګې ته چې د 1382 لمریز کال د تلې د میاشتې د 2003 کال په اکتوبر کې دایریږي ترتیب کړي.
د کمیسیون د ندې عبارت دي له :

- داساسي قانون د تسوید د جریان په برخه کې د خلکو د ټولنیزې پوهې لوړول او په دې ټوله دوره کې داسنتیاوو رامنځ ته کول.
- د خلکو د وړاندیزونو د لړیپیل کول د افغانستان د خلکو د وړاندیزونو راټولول او انعکاس د ملي ارمانونو لپاره په ټول افغانستان، ایران، پاکستان او د امکان په صورت کې په نورو هیوادونو کې د مهاجرینو د نظریې د راغونډولو په خاطر.
- د اساسي قانون د مسودې د وړاندیزونو د طرحې لوستل اوکتنه.
- د هغو ګزارشونو راغونډول او ترتیب چې په هغه کې د خلکو وړاندیزونه چې د ټولنیزو نظر غوښتنو په لړ کې راټول شوي نظرونه تر تحلیل او تجزیې لاندې نیول او ثبتول.

- د مسودې ليکل او چاپول.
- داساسي قانون د مسودې د خلکو د پوهولو لپاره د افغانستان ټولو ولايتونو ته بيرته ورستنيدل.

3: داساسي قانون لويه جرگه.

لويه جرگه هغه يوه ستره غونډه ده چې د افغانستان دخلکو د ارادې ښکارندويه ده د هيواد د اساسي قانون د جوړجاړي لپاره. چې د هغې دنده به پرمسوده غورکول او تصويبول وي.

لويه جرگه د 1382 هجري لمريز کال د تلې دمياشتې په نهمه نيټه د (2003 ميلادي کال د اکتوبر په لومړۍ ورځ پيل او د 1382 لمريز کال د لړم د مياشتې په دريمه نيټه د 2003 م کال د اکتوبر د مياشتې په 25 نيټه به پای ته ورسيږي. چې وروسته له هغه به اساسي قانون چاپ او خپور شي.

**داساسي قانون دبهير په اړوند د عامه پوهونې څرنگوالي لارې کومې دي.**

عامه پوهونه د اساسي قانون په بهير کې درې مرحلې لري:

1. د اساسي قانون د بهير او په هغو پوري په اړوندو مسايلو باندې د خلکو خبرول د 1382 د حمل نه تر 1382 سنبلې پورې.
2. د اساسي قانون د محتوياتو په باره کې چې لويې جرگې ته په وړاندې کيږي د خلکو پوهول. او معلومات وړاندې کړل چې لويه جرگه به په څه شکل اساسي قانون تصويبوي. (په سنبله او ميزان 1382 لمريز)
3. تر تصويب وروسته د نوي اساسي قانون په باره کې د خلکو معلوماتو ته وده ورکول. (د عقرب او قوس په مياشتو کې 1382لمريز)

دا لړۍ به ټولو افغانانو ته رسيږي. دا به يوه اوږده لړۍ وي. د عامه پوهنې د لړۍ مرحلې يواځينۍ موخه دا ده چې، د اساسي قانون د تدوين بهير او اړوندو مسايلو په هکله د خلکو د معلومات لازيات کړاي شي.

دغه مرحله د اساسي قانون د تدوين په بهيرکې د خلکو د پراخه ونډې اخيستلو زمينه برابر وي.

د عامه پوهنې په دوو وروستيو مرحلو کې به خلک د قانون اساسي په بنسټيزو منځپانگو باندې وپوهولي شي. له دې سره سره به د افغانستان خلک د خپلو غوښتنو په باره کې د وړانديزونو په څرنگوالي خبر کړای شي.

د کميسيون دارالانشا د عامه پوهونې څانگه منځ ته راوړې ده چې د قانون اساسي د تدوين د بهير او اړوندو مسايلو په باره کې د خلکو د پوهې کچه لوړوي. دغه څانگه

د مدني ټولني له کار کونکو، او نورو ټولو ډلو سره چې د اساسي قانون د تدوين د بهير ملاتړ کوي، د يووالي او هماهنګی لپاره اړيکې ساتي.
د عامه پوهونې د څانګې دندې په دې ډول دي:

- په ټول هيواد کې د عامه پوهونې پروګرام ته پراختيا ورکول.
- د ډېر تر لاسه کول چې د عامه پوهونې لړۍ ټولو افغانانو ته، څوک چې په افغانستان کې دننه دي، او هغه کډوال چې په پاکستان او ايران کې ميشت دي، او د امکان په صورت کې هغه مهاجرينو ته چه د دنيا په نورو هيوادونو کې دي، رسيدلي ده.
- د عامه پوهونې د کار کونکو او د دارالانشا، د بيلابيلو مدني ټولنو، او د دولتي ادارو د غړو تر منځ يووالی او هماهنګي منځ ته راوړل او د هغوی ملاتړ کول.
- د ټولو ښوونيزو موادو تصويبول چې پرته له دارالانشا څخه راغونډه شوې وي.
- د عامه پوهونې لپاره ښوونکي روزل او د ښوونيزو موادو برابرول.

د دارالانشا نهمه ساحوي دفترونه پرانيزي، او په هره منطقه کي د عامه پوهوني د پروګرام د يووالي لپاره يو کارکونکي توظيفوي.
د دارالانشا کارکونکي په هغه سيمو کي ځاي پر ځاي شوي، او په هر ولايت کي يي خلک د اساسي قانون د تدوين له بهير څخه خبر کړي، او په دې اړوند د خلکو پوښتنو ته ځوابونه وايي.
د عامه پوهوني پيغامونه د ټولنيزو خبريدو ليږدونکي له لاري هم خپريدل، او همدارنګه د مدني ټولنو د سيمينارونو له لاري، چه د اساسی قانون د تدوين د بهير په خپرولو کي يي ژمنه کړيده، خلکو ته رسيږي.
د اساسي قانون کميسيون په نظر کي لري چه د نظر غوښتني پراخه بهير په ټول هيواد کي پلي کړي. دغه کميسيون ټولو هيوادوالو سره نيغ په نيغه، او يا د نورو ډلو او ګروپونو په واسطه سلا مشوره کوي، ترڅو د اساسي قانون د تدوين د بهير په اړوند د هغوي څرګندوني او وړانديزونه لاس ته راوړي. له دي کبله کميسيون نهه سلاکار ګرزندوي ټيمونه چوړوي، ترڅو وتوانيږي په ټولو سيمو او ولاياتو، او همدارنګه ايران او پاکستان او که ممکن وي نورو هيوادونو ته ولاړ شي. د سلا مشوري بهير به دوه مياشتي وخت ونيسي، او د کميسيون غړي به د هيواد 32 ولاياتو، ايران او پاکستان کي د افغاني مهاجرينو استوګنځايونو، او د امکان په صورت نورو هيوادونو ته، سفر وکړي.
د کميسيون د غړو سره د سلا مشوري په ليدني کتني کبلي د اسانتيا لپاره به د افغانستان په ټولو 32 ولاياتو کي يو يو کارکونکي وګارل شي. د کميسيون د هر ټيم لپاره به دوه تنه راپور تران وروزل شي تر څو وتوانيږي د غونډو دقيق راپور راغونډ کړاي شي، او همدارنګه د غونډي مکمل بهير بايد په فيته کي ثبت کړي ترڅړ د غونډي د رپوټ د صحت څخه ډاډګيرنه وشي.
سربيره پر دې افغانان بايد په داخل او بهر کي دې ته وهڅول شي چې د اساسي قانون د ښتيزي منځپانګي په اړه خپل وړانديزونه کميسيون ته وړاندي کړي.
د سلا مشوري د عمومي بهير په پاي کي، به د کميسيون غړي د اساسي قانون د ښتيزي منځپانګي په اړه د خلکو ټول وړانديزرنه او نظريات مطالعه او تځليل کړي. د کميسيون غړي به مخلصانه زيار باسي تر څو د خلکو متعدد ضرورتونه يو تر بل سره انډول، او تر ممکن حد پوري د هغوي نظريات د اساسي قانون په ښتيز منځپانګه کي ځاي پر ځاي کړي. دارالانشأ د قانون خوره وره منځپانګه، داسي ترتيبوي چه د اساسي قانون د منځپانګي غوره ځانګړتياوي په ساده ټکو کي بيان شي.

دغه خوره وره منځپانګه د اساسي قانون د کمیسیون، مدني ټولنو او خبریزو څانګو لپاره د اساسي قانون د منځپانګي د عامه پوهوني لپاره د وسیلي په حیث د استفادي وړ وګرځي.
د کمیسیون غړي یو راپور برابروي چه د اساسي قانون د منځپانګي سره به ضمیمه شي. دغه راپور د خلکو متعدد نظریات په نظر کي نیولي او د اساسي قانون د غوره مسایلو لکه د دولت د جوړښت په باره کي د تصمیم نیولو په اړه د کمیسیون د کار په څرنګوالي رڼا اچوي. د کمیسیون غړي به یوځل بیا د ګرزنده دلګیو په جوړولو سره ولایاتو او سیمو ته سفر وکړی تر څو د خلکو نه سلا واخلي او هغوي ته د اساسي قانون منځپانګه او ورسره ضمیمه راپور ورکړي د کمیسیون غړي به د اساسي قانون د منځپانګي په اړه، او دا چه څرنګه د خلکو نظارت او وړاندیزونه په نظر کي نیول شویدي، رڼا واچوی.
کله چي ټولي غیرسیاسي ټولني، کومي چي د عامه پوهوني د پروګرام د پرمختګ غوښتونکي دي، وغواړي کولي شي د دغه بهیر په سرته رسولو کي برخه واخلي، په دي شرط چي د دارالانشا د ټاکل شویو اصولو او اساساتو پیروي وکړي. کمیسیون به د هیڅ یوي خاصي ډلګي ماده او معنوي ملاتړ ونکړ شي.

## د اساسي قانون د تدوین په بهیر کي د خلکو برخه اخیستنه ولي مهمه ده؟

په مهمو او حیاتي مسئلو کي تصمیم باید په سلا مشوره سره ونیول شي په یوي مشخصي مسئلي کي د نورو نظر غوښتني ته سلا یا مشوره وایي.
همدارنګه په عمومي مسئلو کي د خلکو نظرغوښتني ته عمومي سلا مشوره وایي. سلا مشوره په ټولو شخصي، کورنیزو او عامه امورو کي خاص ارزښت لري له همدي کبله اسلام خپلو پیروانو ته په ټولو مسئلو او په خاصه توګه عامه امورو په باره کي د تصمیم په وخت د سلا مشوري تاکید کوي.
د حیاتي مسئلو او خصوصاً د دولتي امورو په باره کي چه د ټولو خلکو پوري اړه لري تصمیم باید د پراخه سلا مشوري په اساس ونیول شي.
د قران کریم مبارک ایتونه دي ابنل ته راتینګښت وربښي.

الله تعالي هغه کسان چه خپل کارونه په سلا مشوره سرته رسوي ستايي او فرمايلي يي دي:
قال تعالي- والذين استجابو الربهم واقامو الصلوه و امرهم شورى بينهم و مما رزقناهم ينفقون (شورى 38).
په دغه مبارک ايت کي سلا په الله تعالي باندي ايمان، لمونځ او ذکات سره يوځاي ذکر شوي ده (چه د اسلام دري اصلي ارکان دي) او دغه يوځاي والی خپله د سلا مشوري لوړ ارزښت ښايي.
له دي کبله لمونځ يوه ديني وجيبه، ذکات ټولنيزه وجيبه او سلا مشوره يوه سياسي وجيبه ده.
همدارنګه د سلا مشوري ارزښت د لاندي ايت نه ښکاره کيږي الله تعالي په دي اړه داسي فرمايلي:
قال تعالي- و شاورهم فی الامر فاذا عزمت فتوکل على الله (ال عمران 159).
په پورتني ايت کي الله تعالي خپل پيغمبر (ص) ته امر کوي چې د کارونو په باره کې دخپل امت (اصحابو) سره مشوره کوه ، چې د سلامشورې ارښت لا راوښانه کوي. له دې کبله پيغمبر(ص) ته، سره له دې چې وحي ورته راتلله، امر وشو چې دخپلو اصحابو سره مشوره وکړه.
همدا علت دي چې سلا مشوره د هغه (ص) د پيروانو لپاره ډير ارزښناکه ده.
همدارنګه زيات مبارک حديثونه د سلا مشورې اهميت بيانوي. څه وخت چې پورتنی ايت د مشورې په باره کې نازل شو، پيغمبر (ص) وفرمايل:
(ربښتيا ده چې الله تعالى (ج) او د هغه رسول (ص) مشورې ته هيڅ اړتيا نه درلوده) مګر فرمايلي يي دي (مشوره زما د امت لپاره رحمت دی، هر څوک چې په چارو کې مشوره وکړي نيغه لار به وروښودل شي، او هر څوک چې مشوره پريږدي په غلطه دي). (روح المعانی)
او همدارنګه نقل شوی دی څه وخت چې د پيغمبر (ص) نه پوښتنه وشوه چې (داسي نوې پيښې واقع کيږي چې د هغو په باره کې د پيغمبر (ص) پيروان نشي کولای چې په قران کريم او سنت نبوی کې يې حکم پيدا کړي، نو څه بايد وکړي؟) پيغمبر (ص) ځواب ورکړ (تقوی دار خلک راوغواړئ او بيا خپل کارونه په مشوري حل کړئ او صرف په رايه باندې پريکړه مه کوئ).
سره له دې چې په پورتنيو ايتونو او احاديثو کې ښکاره ده چې مشوره د اسلام له ښستيزو اصولو څخه ده، مګر اسلام په هغو برخو کې چې مشوره په کې بايد څنګه صورت ونيسي، رڼا نه ده اچولې.
دا د هر خاص وخت او ځای په خلکو پورې اړه لرې چې د سلا مشورې، او د ستونزو او مسايلو د حل لارې چارې د خپلو اړتياؤ په نظر کې نيولو سره پيدا کړي.
همدارنګه په سترو پريکړو کې مشوره کول لکه د نوي اساسي قانون جوړښت د ولسواکی (دموکراسۍ) له اصولو سره مطابقت او يووالی لري.
همدارنګه د سلا مشورې ارزښت د لاندې ايت نه ښکاره کيږي الله تعالی(ج) په دې اړه داسې فرمايلي:
قال تعالی-
په پورتني ايت کي الله تعالی (ج) خپل پيغمبر (ص) ته امر کوې چې د کارونو په باره کې د خپل امت (اصحابو) سره سلا مشوره کوه، چې له دې امله چې (ونډه) (خوښي) او (رقابت) د ولسواکی (دموکراسۍ) درې غوره عناصر دي.
مشوره ولې يو بنيادې اصل شمارل کيږي؟ له دې امله چې مشوره يو ډله ييز زيار او کوښښ دی چې د يو واقعي حقيقت د لاس ته راوړلو لپاره په کارل کيږي.
مشوره د فکرونو د تبادلې يو بهير دی چې د يوې معقولې، پوره او ګټورې پريکړې د لاس ته راوړلو لپاره په کار اچول کيږي

**اساسي قانون له نورو قوانينو سره څه اړه لري؟**
**او په کې د بدلون شرطونه څه دي؟**

اساسي قانون په يو هيواد کې د عادي قوانينو په پرتله لوړ او عالي بلل کيږي. او په دې ترتيب اساسي قانون د عادي قوانينو سرچينه ده يا په بل ډول عادي قوانين د اساسي قانون په رڼا کې ترتيب او تنظيميږي. او په همدې ډول د اساسي قوانينو د تدوين او تصويب پر مهال عرف لازماً په نظر کې نيول کيږي. او د ټولنې عمومي او منل شوي اصول تنظيموي او مشروعيت وربښي.
غواړو د اساسي قانون د څرنګوالي په اړه له نورو قوانينو سره د يوې بيلګې په توګه ښکاره کړو.
اميد لرو چې موضوع به روښانه کړاى شي.
بيلګه: په اساسي قانون کې د مطبوعاتو ازادي د دموکراسۍ له اصولو څخه شميرل کيږي. اوس غواړو د دغه اصل د تطبيق څرنګوالي د عادي قانون په چوکاټ کې، د مثال په توګه د جزايي قانون تر غور لاندې ونيسو، کوم چې په 1355 ه ش کې تصويب شوى. په 231 دوه سوه او يو ديرشمه ماده کې دا رنګه بيان شوي دي. (هغه څوک چې خلک په يو عام ځاى کې غونډې ته راوغواړي، او يا په هغه غونډه کې سره د پوهې برخه واخلي چې د امنيتي ځواکونو له خوا څخه پرې بنديز لګيدلى وي. د لنډې مودې په بند او يا نقدي جزا چې د دولس زره (12000) افغانيو څخه کمه نه وي محکوميږي.
اوس ګورو چې ذکر شوې ماده په ښکاره ډول د مطبوعاتو د ازادۍ په خلاف ده، څرنګه چې د يوې ډلې خبرياالانو لپاره زياتې ستونزې پيداکوي چې ورځنۍ مسايلو څخه غواړي راپور برابر کړي.
له دې امله د اساسي قانون د ښکاره حکمونو په اساس د دغې مادې په باره کې بايد بيا کتنه وشي.

## اساسي قانون څرنګه کولای شي د افغاني ټولنې اصول او ارزښتونه روښانه کړي؟

زیاتره اساسي قانونونه (قوانین) په یوي سریزې پیلیږي. غالباً (زیاتره په کې) د یو هیواد د خلکو تاریخي ویاړونو، ارزښتونو او د هغوي د ارمانونو مهم ټکی په کې په ګوته کیږي.

د افغانستان د 1343هجري شمسي کال اساسي قانون چې د 1964میلادي کال سره سمون خوري لاندیني ارزښتونه روښانه کوي چې په هغه وخت کې د هیواد لپاره د اړتیا وړ، او د لوی او عادل خدای (ج) په نامه پیل شوي:

د وخت د اړتیا، د کلتوري واقعیتونو او ملي تاریخ په بنسټ د ملي ژوند دوباره تنظیموي.

عدالت او برابري.

د ټولو اتباعو د ژوند یوشان حقوقي ملاتړ.

- د ټولو اتباعو د ژوند کچه لوړول.

- یو ولسي او متحد دولت منځ ته راوړل چې وتوانیږي د خلکو په منځ کې د یو ځانګړي دولت په عنوان ځای ونیسي.

همدارنګه افغانستان خپل نوی اساسي قانون تیاروي، افغانان باید د خپلو ارزښتونو او قابل احترام اصولو له مخې فکر وکړي. او امکان لري ارزیابي وکړاي شي چې کوم تیر شوي خاص شرطونه په اساسي قانون کې په ګوته شي.

دا کار ممکن د تیرو ترخو تجربو د نه تکرارولو او یا د هغه کسانو د قدردانی په موخه ټینګار وي چې په خاص ډول د هیواد په ښیګړه کې برخه ولري.

## د دولت جوړښت کولای شي د قدرت څخه د بدې استفادې مخه ونیسي؟

ټولو اساسي قوانینو د دولت د درې اصلي ارګانونو صلاحیت او اقتدار روښانوي.

مقننه قوه (چې د پارلمان په نامه یادیږي) او د قوانینو جوړول په غاړه لري.

اجرائیه قوه (چې د حکومت په نامه هم یادیږي) او د قوانینو د پلي کیدو دنده او مسؤلیت په غاړه لري.

قضائیه قوه (قضا) چې قوانین تغیر او پلي کوي.
د دې لپاره چې د دولت هيڅ يو ارګان له حده زياته ځواکمن نه شي. او بيله کوم بنديز څخه کار وکړای شي، د ځواکمنی د ويش او صلاحيت په برخه کې دا دری واړه ارګانه په نظر کې نيول کيږي چه په دغه ډول د ځواک ويش، د ځواک څخه د بدې استفادې، تيری کول د خلکو پر حقوقو باندې مخه نيسي، په داسې حال کې چې دا درې واړه ارګانونه روښانه او ښکاره شوي مسؤليت په انډول د خپلو هم کچه ارګانو سره ګډه مرسته لري.
په غوڅه توګه ويلای شو چې ټول هيوادونه اساسي قوانين لري.
خو دا په دې مانا ده چې د غه ټول سياسي قانونونه د اتباعو حقونه خوندي کوي اوله ځواک څخه د مشرانو د ناوړه ګټې اخيستنې مخه نيولای شي.
يو شمير اساسي قوانين د لوړ رتبه دولتي چارواکو ډلو يا اشخاصو له خوا جوړيږي او دغه ډلې د قوانونو د جوړولو پر مهال يوازې د يوې ټاکلې ډلې ګټې په نظر کې نيسي. او ګڼ شمير خلک په دې هکله چې حکومتونه يې څه کوي اصلاً خبر نه دي.
د اساسي قوانينو يو شمير نورې بيلګې دخلکو د استازيو له خو ا تسويد او تصوييبيږي.
دا قوانين ددمراکراسۍ له غوښتنو سره سم جوړيږي چې د بيلګې په توګه په هغو کې دغه مسايل شرح کيږي:

- په حکومت کې د خلکو ګډون
- په ټاکلو کې د ګڼو ګوندونو ګډون
- په حکومت کې د خلکو د استازيو د ټاکنې لپاره د خلکو له خوا د ازادو، منظمو او عادلانه ټاکنو ترسره کيدل.
- د قانون په وړاندې ټول اتباع سره برابر دي. او قانون دهيڅ چا يا ځانګړې ډلې په وړاندې کوم تبعيض نه لري.
  - ټول اتباع د فرصتونو او سر چينو د ترلاسه کولو لپاره سره برابر حقوق لري.
  - ټول اتباع له بشري حقونو څخه برخوردار دي.
  - هيڅ څوک له قانون څخه پورته نه دي او قانون د درناوي وړ دی.
  - دلږه کيو د حقوقو ساتنه.
  - خلکو ته ددولت حساب ورکول.

# د افغانستان
# د اساسی قانون
# د تسوید کمیسیون
# دارالانشا

# دعامه پوهوني دپروګرام اساسي نصاب

## د عامه پوهونې د روزونکو کار دود

**د روزونکي لومړنۍ دندې:**

**1-** له سيمه ييزو مسئولينو سره ليدل او خبرې اترې او د برنامې له بهير څخه د هغوی خبرول، او په لاندينيو برخو کې له هغي څخه د مرستي غوښتل:

**الف: د امنيت تأمين.**

ب: د پوسترونو او تبليغاتي لوحو نښلول او له پروګرام څخه د خلکو خبرول.

ج: د ګډون کوونکو ټاکنه، پام دې وشي چې ټول کسان له ټولو قومونو، طايفو او سيمو څخه استازيتوب وکړای شي او لانديني صفتونه ولري.

1. علمي او ولسي اعتبار ولري لکه عالمان، روښنفکران، منورين، مشران، ښوونکي، محصلين، زده کوونکي او نور.
2. هڅه دې وشي چې د ښځو استازيتوب تأمين شي.

3. هڅه دې وشي چې د دغو کسانو عمر او روغتيا په نظر کې ونيول شي.

**2. تر غونډې مخکې چمتووالی.**
الف: د وسايلو چمتو کول لکه فرش، څوکۍ، ځانګړی ميز، ستيژ، ميک او لوډ سپيکر.
ب: د ګډون کوونکو ازاده نوم ليکنه.
د غونډې د جوړيدو پر مهال چمتووالی.
الف: د قران کريم د اياتو په تلاوت پيل کول.
ب: د يو تن سيمه ييز کار کوونکي له خوا د روزونکي پيژندنه او د پروګرام پانه وېشل.

**ج: د روزونکي د پوهونې پروسه.**
د: د صلاحيت له حدود سره سم پوښتنو اوځوابونو ته په پای کې شل دقيقې وخت ورکول.
ه: په ټيپ کسټ کې د غونډې د جريان ثبت.

**3- د غونډې پای:**
الف: د عالمانو يا کوم قوي مشر له خوا د دعائې لوستل.
ب: استازوته د موجودو موادو وېشل.
ج: د غونډې ارزونه.
د: د پوښتنو او وړانديزونو يادښت.
ه: له روزونکي سره د سيمه ييزو همکارانو د مرستې د څرنګوالي ارزونه.

# لومړی څپرکی

## اساسي قانون څه شی دی او ولې ورته اړتیا لرو.

**هدف:**
د اساسي قانون د مفهوم، ارزښت او اړتیا په هکله د خلکو پوهول.

**اساسي پیغامونه:**
- اساسي قانون تر ټولو لوړه ملي وثیقه ده.
- اساسي قانون د ملي یووالي ژمنه او د خلکو د حاکمیت د ترلاسه کولو یوازینۍ وسیله ده.
- اساسي قانون (نظم) امنیت او ټولنیز عدالت تأمینوونکی او د ملت د ارادې ښکارندوی دی.

**میتود:**
- تشریح.
- خبرې اترې.

**وسایل:**
- تبلیغاتی وسایل.
- پوسترونه، کارتونه،
- له ټولنیزو وسایلو څخه ګټه اخیستنه.

# دوهم څپرکی

## د اساسي قانون منځپانګه څه ده؟

**هدف:** د اساسي قانون له منځپانګې څخه د خلکو خبرول.

**اساسي پيغامونه:**

- د افرادو د خپلمنځي او د افرادو او دولت تر منځ د اړيکو تنظيم.
- اساسي قانون د دولت جوړښت، د صلاحيتونو حدود او ځواکمني ټاکي.
- دولت د خلکو خدمتګار دی.
- د دولت ځواکمني د خلکو ده.
- هر څوک په ټولنه کې حق لري چې بايد رعايت شي.
- اساسي قانون د اتباعو حقوق او ازاديو ته مشروعيت وربښي.
- اساسي قانون د اعتبار او سياسي ثبات نښه ده.

**ميتود:**

- پوښتني او ځواب.
- ګردی مېز.
- چارټ.
- پوستر.
- د ورکشاپونو، سيمينارونو جوړول (د ولايتونو په مرکزونو او کابل کې)

**وسايل:**

- چارټ.
- پوستر.

# دريم ځپرکی

## د افغانستان د اساسي قانون د تدوين بهير ته يوه کتنه.

**هدف:**

- د افغانستان د اساسي قوانينو له تاريخي سوابقو سره د خلکو اشنا کول.
- د افغانستان په تاريخ کې د اساسي قوانينو د ارزښت بيان.

**اساسي پيغامونه:**

د افغانستان د خلکو د تاريخي، ټولنيز او فرهنګي هويت اثبات، د افغانستان په تاريخ کې اساسي قوانين، يوه بله وثيقه ده. تېر اساسي قوانين د اوسني اساسي قانون لپاره ملاتړي دي.

**میتود:**

- تشریح.
- مباحثه.
- خبرې اترې.
- له تاریخي فلمونو څخه ګټه اخیستنه (لویې جرګې).

**وسایل:**

- چارټ.
- لوډ سپیکر.

# څلورم څپرکی

## د اساسي قانون په بهیر کې کوم بنسټونه ونډه لري؟

**هدف:** د هغو بنسټونو پېژندنه چې د اساسي قانون په تسوید کې ونډه لري.

**اساسي پیغامونه:**

- د قانون د تسوید د بهیر په تنظیم او هماهنګۍ کې د کمیسیون دارالانشأ مهمه ونډه لري.
- د اساسي قانون د تسوید کمیسیون تاریخي او مهمه ونډه او مکلفیت لري.
- لویه جرګه د ملت د ارادې ممثله ده.

**میتود:**

- ژبنۍ تشریح.
- د ونډې اجرأ کول.
- د جریدو او مجلو له لارې د هدفونو تشریح.
- د سیمه ییزې راډیو له لارې د هدفونو تشریح.

**وسایل:**

- فیلپ چارت.
- قلم، مارکر، پنسل، سپین کاغذ، د لیکنې دړه.
- راډیو او تلویزیون.
- پوسته.
- جریدې او جملې.
- لاربنود کتاب.

# پنځم څپرکی

## د اساسي قانون په اړه د عامه پوهونو د کړنلارې لارې او پړاوونه کوم دي؟

**هدف:**

د اساسي قانون د تسوید د پړاو له بهیر څخه د خلکو خبرول.

**اساسي پیغامونه:**

- د اساسي قانون د تسوید له پروسې څخه د خلکو خبرول په کار کې د شفافیت نښه ده.
- د اساسي قانون د تسوید د بهیر د چارواکو تر منځ هماهنګي د بریالیتوب ضامن دی.
- که خلک د اساسي قانون په جوړولو کې ګډون ولري، هغه خپل ګڼي.
- د اساسي قانون په بهیر کې د خلکو ګډون د هغه د ملاتړ لا ځل ګرځي.

## میتود:

- لکچر.
- رول پلې (د ونډې اجرأ کول).

## وسایل:

- فلیپ چارت.
- قلم، پنسل، تخته.
- سپین کاغذ، مارکر.
- تلویزیون.
- پوستر- رادیو .

# شپږم څپرکي

## د اساسي قانون د تدوین په پروسه کې د خلکو ګډون ولې ارزښت لري؟

**هدف:**
د اساسي قانون د تدوین په بهیر کې د خلکو د ګډون په هکله د هغوی د پوهې د سطحې لوړول.

**پیغامونه:**
مشوره د اسلام د سپېڅلي دین یو اصل دی.
- ګډون د مالکیت او مسئولیت احساس رامنځته کوي.
- سلامشوره د اعتماد او همکارۍ حس رامنځته کوي.
- سلامشورې د تېرو تنو مخه نیسي.

**میتود:**
- لکچر.
- ډله ییزې خبرې اترې.

**وسایل:**
- مناسب ځای.
- قلم، پنسل، د لیکلو تخته.
- سپین کاغذ او مارکر.
- راډیو. تلویزیون.
- پوسټر. تبلیغاتي پاڼې.

# اووم څپرکی

## له نورو قوانینو سره د اساسي قانون اړیکي او د هغه د تعدیل شرایط څه ډول دي؟

**هدف:**

له نورو قوانینو سره د اساسي قانون د اړیکو او د هغو د تعدیل د شرایطو په هکله د خلکو خبرول.

**اساسی پیغامونه:**
اساسي قانون د تعدیل وړ دی خو تر ځانګړیو شرایطو لاندې عادي قوانین د اساسي قانون له مخې جوړېږي.

**میتود:**
- پوستر.
- لکچر.
- ننداریک او د بي بي سي له ډرامو څخه د تلویزیون له لارې ګټه اخیستنه.

**وسایل:**
- پوسترونه.

# اتم څپرکی

## اساسي قانون څنګه کولای شي د افغاني ټولنې اصول او ارزښتونه بیان کړي؟

**هدف:** په اساسي قانون کې د خلکو د غوښتنو او ملي ارزښتونو د انعکاس په اړه د هغوی خبرول.

**اساسی پیغامونه:**
- اساسي قانون به د افغاني ټولنې د ارزښتونوانعکاس ورکوونکی وي.
- اساسي قانون د خلکو نظریاتو ته درناوی لري.

**میتود:**

سمعي او بصري وسایل.

**وسایل:**

- بیټرۍ.
- راډیو.
- ثبت وونکی ټیپ.

# نهم ځپرکی

## څرنګه د اساسي قانون له مخې د دولت په جوړښت کې له ځواک څخه د ناوړه ګټې اخیستنې مخه نیول کېدی شي.

**هدف:**

د یوه متوازن او حساب ورکوونکي دولت د جوړښت د څرنګوالي په هکله د خلکو پوهول.

**اساسي پیغامونه:**

- هر شخص د اساسي قانون د رعایت په برخه کې دنده لري.
- د اساسي قانون له مخې د ځواک ورکول له ځواک څخه د ناوړه ګټې اخیستنې مانا نلري.

**میتود:**

- لکچر.
- ننداریک، د راډیو او تلویزیون له لارې.
- وسایل.
- راډیو.
- ټیپ.
- بیټرۍ.